د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو او تشریفاتو ریاست
د مطبوعاتو آمریت

# داقتصادي معاونیت فعالیتونه او د هېوادوالو نظرونه

## ۱۴۰۱ لمریز کال

د اسد له لومړۍ د تلې تر ۳۰مې



# لړلیک


| ش | موضوع | م |
|---|---|---|
| ۱ | د کجکي برېښنا بند د دويم فاز پرانيسته | ۱ |
| ۲ | په کابل ښار کې د سوالګرو راټولولو پروسې پيل | ۱۰ |
| ۳ | د هېواد په شمال کې د قوش تېپې کانال چارو پيل | ۲۰ |
| ٤ | له ګاک کمپنۍ سره د هوايي ډګرونو د تړون لاسليک | ۲۹ |
| ۵ | د اوبو او انرژۍ په سکتور کې د پانګونې د جلب او هڅونې کنفرانس ته د الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند وينا | ۳۸ |
| ٦ | د هرات په ستره اقتصادي ناسته کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ګډون | ٤۷ |
| ۷ | افغان انويسټ محدودالمسئوليت شرکت پرانيسته | ۵۵ |

# د کجکي برېښنا بند د دویم فاز پرانیسته




## سریزه:

د کجکي برېښنا بند د هلمند ولایت په کجکي ولسوالۍ کې موقعیت لري. دغه بند د افغانستان یو پخوانی او تر نیمې پېړۍ د زیاتې مخینې په درلودو سره د افغانستان یو ستر بند ګڼل کېږي، چې لومړۍ ځل یې کارونه د محمد ظاهرشاه د حکومت په دوره کې پیل شول. په کجکي بند کې د اوبو د زېرمې کچه له ۱.۷ څخه تر ۲.۸ میلیارد مترمکعبه پورې ده. د کجکي برېښنا بند مجموعي ظرفیت ۵۱ میګاواټه دی، خو د دویم فاز په جوړېدو سره یې د برېښنا د تولید ظرفیت ۱۵۱ میګاواټو ته لوړ شو.

د کجکي برېښنا بند دویم فاز د ۱۴۰۱هـ.ش د زمري په ۵مه/د ۱۴۴۳ د ذي الحجې په ۲۸مه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند پرانیست. د پرانیستې په مراسمو کې د ریاست‌الوزراء پر اقتصادي مرستیال سربېره، د ریاست‌الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست مولوي عبدالطیف منصور، د اقتصاد وزارت سرپرست قاري دین محمد حنیف او د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال شېرمحمد عباس ستانکزي هم ګډون کړی و. په دغو مراسمو کې الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند وویل: «د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ لپاره بشپړه ژمنتیا او ښه پروګرامونه لري. موږ خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوو چې په نږدې راتلونکي کې به په افغانستان کې د سترو اقتصادي بدلونونو شاهد وي.»

د کجکي بند دویم فاز یوه ترکي ۷۷ شرکت په ۱۷۴ میلیونه ډالره پانګونه جوړ کړ، چې د ۱۰۰ میګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت لري. د کجکي بند د برېښنا پر تولید سربېره شاوخوا ۱۰۰ زره هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبوي چې په ګټې اخیستنې سره یې زرګونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې.

## د پروژې موخه:

د کجکي برېښنا بند دویم فاز د جوړېدو اصلي موخه د هېواد جنوبي ولایتونو او په ځانګړې توګه هلمند او کندهار ته د برېښنا چمتو کول دي. د دې سیمې صنعتګران او عام خلک له کلونو راهیسې د برېښنا له کمښته سر ټکوي. همدارنګه د کجکي برېښنا د دویم فاز په جوړېدو به په هلمند کې ډېرې کرنیزې ځمکې خړوبې شي او ډېر حاصلات به ترې ترلاسه شي. پر دې سربېره د بندونو جوړېدل د اوبو د ښه مدیریت لامل کېږي، ځکه اوبه د وروستیو وچکالیو او اوبو ته د هېوادونو د اړتیا له امله یو مهم اقتصادي لومړیتوب ګڼل کېږي.

## په هغو رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د کجکي برېښنا بند د دویم فاز پرانیستې» خبر یې خپور کړی دی

### الف: خصوصي رسنۍ:




### ب: دولتي رسنۍ:




## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:




**یادونه:** په پورتني ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي، چې د کجکي برېښنا بند دویم فاز د پرانیستې خبر یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

# په خصوصي او دولتي رسنیو کې د دې خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

## ۱- خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ورځپاڼې




### آژانسونه




### وېب پاڼې




په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## ۲- دولتي رسنيو کې د خلکو د نظرونو ارزونه:

### تلويزيونونه




### راډيوګانې




### آژانسونه




### ورځپاڼې




### وېب پاڼې




### ټويټرپاڼې



## ویاندویان




## دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزوني ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزوني ټولګه




## د کجکي برېښنا بند د دویم فاز پرانیستي په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو تحلیل او تجزیه

### د خلکو د نظرونو د تحلیل او تجزیې موخه:

په ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو تحلیل او تجزیه د خلکو د نظرونو د روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسئلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت ورکوي، چې د حکومت د اقتصادي تصمیمونو، فعالیتونو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## په افغانستان کې له ټولنیزو شبکو څخه د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو حضور او فعالیت وڅېړو، په افغانستان کې اکثریت خلک په فېسبوک کې فعال دي. خو په ټویټر کې رسمي-حکومتي کسان او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ډېر حضور لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او غیر رسمي کسان تر فېسبوک په ټویټر کې ډېر فعالیت لري. په افغانستان کې په ټویټر کې د عامو خلکو حضور تر فېسبوک کم دی.

خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او همدارنګه د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو له امله په فېسبوک او ټویټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او غیر رسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د ورکړل شوو نظرونو د شمېرو تحلیل او تجزیه:

په لومړي سر کې رسنۍ موږ پر دوو برخو وېشلای شو: خصوصي رسنۍ او دولتي رسنۍ.

۱. د کجکي برېښنا بند د دویم فاز د پرانیستې په اړه د خلکو د نظرونو د ارقامو تحلیل او تجزیه د خبري آژانسونو، تلویزیونونو، راډیوګانو، وېبپاڼو او ورځپاڼو په ګډون د خصوصي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې ده. په خصوصي رسنیو پورې اړوند په ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبت او منفي ارقامو او وړاندیزونو شمېر په مجموع کې ۱٦۱۷ دی. د دغو نظرونو له جملې څخه ۱۱۲۹ مثبت دي، ۴۳۷ منفي نظرونه او ۵۱ سالم وړاندیزونه دي، چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۷۰٪، منفي ۲۷٪ او سالم وړاندیزونه ۳٪ دي.

۲. همدارنګه د کجکي برېښنا بند د دویم فاز د پرانیستې په اړه د خلکو نظرونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، خبري آژانسونو، ورځپاڼو، د افغانستان اسلامي امارت مرکزي ویاندویانو، وېبپاڼو او ټویټرپاڼو په ګډون د دولتي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې ټول مثبت نظرونه، منفي نظرونه او وړاندیزونه ۱٦۰۹ دي. د دغو نظرونو له جملې څخه ۱۰۵۸ مثبت دي، ۴۳۸ منفي نظرونه او ۱۱۳ سالم وړاندیزونه دي، چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ٦٦٪، منفي ۲۷٪ او سالم وړاندیزونه ۷٪ دي.

په دې ارزونه کې جالبه دا ده چې تر دولتي رسنیو په خصوصي هغو کې د خلکو مثبت نظرونه زیات دي. د خصوصي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې د مثبتو نظرونو شمېر ۱٦۱۷ او په دولتي رسنیو کې بیا د مثبتو نظرونو شمېر ۱٦۰۹ دی، چې په ټوله کې په خصوصي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۷۰ او په دولتي کې بیا ٦٦ ده. خو په دولتي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ۷٪ او په خصوصي هغو کې۳٪ده. په حقیقت کې سالم وړاندیزونه په دولتي رسنیو کې د خصوصي هغو دوه چنده دي. مګر د منفي نظرونو سلنه بیا یو شان ۲۷٪ ده.

که په خصوصي او دولتي رسنيو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړانديزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۱۸۷ مثبت نظرونه، ۸۷۵ منفي نظرونه او ۱٦۴ سالم وړانديزونه دي، چې د سلنې له مخې ٦۸٪ مثبت نظرونه، ۲۷٪ منفي نظرونه او ۵٪ سالم وړانديزونه دي.

په خصوصي رسنيو کې د مثبتو نظرونو کچه تر دولتي هغو لوړه ده، عوامل يې څه دي؟

يو اساسي لامل يې دا دی چې خلک يا په ټولنه کې جمعي روان داسې دی چې خصوصي رسنۍ تر دولتي/ رسمي هغو د بې‌پرې او له دولته د جلا رسنيو په توګه ډېری خلک تعقيبوي. له همدې امله د خصوصي رسنيو په ټولنيزو شبکو کې د خلکو نظرونه تر دولتي هغو ډېر دي. په همدې توګه څومره چې نظرونه زيات وي، هغومره د مثبتو نظرونو کچه لوړېږي. دا په حقيقت کې په ډاګه کوي چې خلک د حکومت ستر فعاليتونه، پرېکړې او پروګرامونه تر نظر لاندې لري او په اړه يې -که څه هم د خصوصي رسنيو له لارې وي- خپل نظر شريکوي.

د يوې سترې او زيربنايي پروژې په توګه د کجکي برېښنا بند د دويم فاز پرانيسته د اوسني حکومت يوه مهمه لاسته راوړنه بلل کېږي. له تېرې ادارې او په ټوله کې له تېرو شلو کلونو سره په پرتله د ميلياردونو ډالرو پر راتګ سربېره هغوی ونه توانېدل چې دومره اندازه برېښنا توليد کړي. د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره د ۱۱ مياشتو په جريان کې د کجکي برېښنا بند دويم فاز د ۱۰۰ ميګاواټه برېښنا په ظرفيت سره پرانيستل شو.

احتمالاً دغه پوښتنه مطرح کېږي چې د کجکي برېښنا بند د دويم فاز پروژه او ځينې نورې سترې پروژې د مخکينۍ ادارې پر مهال پيل شوې وې؟ په ځواب کې بايد وويل شي چې لسګونه پروژې د مخکينۍ ادارې او حتی په تېرو شلو کلونو کې پيل شوې وې، خو د فساد، وړتيا نه لرلو او د پروژې د امنيت په ټينګښت کې د ناتوانۍ له امله يې کار کلونه کلونه ځنډېده. يوه له دغو پروژو څخه د کجکي برېښنا بند دويم فاز دی، چې د کابل تېرې ادارې بشپړ نه کړای شوه. خو د افغانستان اسلامي امارت مسوولينو په پر له پسې هڅو په ۱۱ مياشتو کې ګټې اخيستنې ته وسپارله.

## په ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز په لاندې ډول بيانولی شو:

- که د افغانستان اسلامي امارت رهبران د هېواد د ابادۍ په فکر کې وي، بايد پر سترو او زيربنايي پروژو تمرکز وکړي. حکومت بايد پر برېښنا سربېره د کرنې سکټور ته هم پاملرنه وکړي.
- د يوې حياتي پروژې په توګه د کجکي بند د دويم فاز پرانيسته د افغانستان د ټولو خلکو لپاره د خوښۍ ځای دی. هيله ده چې په نورو ولايتونو کې هم د برېښنا بندونو په برخه کې پاملرنه وشي؛ ځکه برښنا په يوه هېواد کې د صنعت لپاره، اوبو ته د انسان د اړتيا غوندې ده.

- د کجکي برېښنا بند د دویم فاز پر پرانیستو سربېره تر اوسه هم خلک په جنوبي ولایتونو او د افغانستان په نورو سیمو کې د برېښنا له ستونزې سره مخ دي. همدارنګه خلک له هرې خوا له ستونزو سره مخ دي، هیله ده چې حل‌لاره ورته ومونډل شي.
- د خوښۍ ځای دی چې حکومت د دې ترڅنګ چې وایي خپلواک دی، خیانت نه کوي او رشوت نه خوري، د کجکي بند پرانیسته ښيي چې اوسني حاکمان په رښتیا هم په ټوله معنی افغانستان ته ژمن دي؛ ځکه په کمو امکاناتو [او د بهرنیو مرسته په بندېدو سربېره] د هېواد د پرمختګ لپاره هڅې کوي.
- حکومت باید د برېښنا تر څنګ نور پروګرامونه په پام کې ولري، ترڅو ځوانانو ته د کار او روزګار زمینه برابره شي.

## په ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په مطالعې سره په عمومي توګه څو مهمې مسئلې د پام وړ دي:

**لومړی**، د خلکو ډېر نظرونه پر سترو او زیربنایي پروژو د حکومت د تمرکز په اړه دي. دغه مسئله د هېواد پر اقتصادي زیربناوو او د کارموندنې پر رامنځته کولو د خلکو تمرکز ښيي. له بلې خوا د دغه ډول پروژو پرانیستې د خوښۍ تر څنګ د ابادۍ د نوي فصل د پیلېدو په اړه په خلکو کې هیله‌مندي زیاته کړې ده.

**دویم**، د اقتصادي پروګرامونو په برخه کې د خلکو وړاندیزونه د پاملرنې وړ دي. لکه څنګه چې په پورتنۍ ارزونه کې د برېښنا تر څنګ کرنې ته د حکومت پاملرنه د یوه جالب او مهم وړاندیز وړ ده. دا په حقیقت کې د یوې ټولنې د پوهاوي او درک کچه ښيي.

**درېیم**، د برېښنا په کمښت او یا د حکومت له لوري په برېښنارسونه کې د خلکو نیوکه، همدارنګه اقتصادي ستونزې په ځانګړې توګه ځوانانو او په ټوله کې خلکو ته د کار زمینه برابرول مهم او د پاملرنې وړ نظرونه دي. د خلکو له لوري د دغو مسایلو په ډاګه کول حکومت اړ کوي چې د سترو اقتصادي پروژو او پروګرامونو د پیل تر څنګ د دوی دغو واقعي غوښتنو ته هم پاملرنه وکړي.

د نړۍ په اوسني وضعیت کې د اوکراین د جګړې له امله اقتصادي ستونزې لکه د خوراکي توکو، تېلو او ګازو د بیو لوړوالی حتی په لویو اقتصادي هیوادونو کې هم شته دي. خو په افغانستان کې د وروستیو سیاسي تحولاتو د رامنځته کېدو، د بهرنیو مرستو د بندېدو، د وچکالۍ، کرونا او د اوکراین جګړې د اغېزو له امله د دغه هېواد اقتصادي ستونزې زیاتې شوې دي. خو دا باید له پامه ونه غورځول شي چې د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره د فساد د له منځه وړلو له امله د ګمرکونو او کانونو په ګډون کورني عواید زیات شوي او دغه ټول عواید د دولت په خزانه کې راټولېږي او بیا د دولتي مامورینو په معاشونو ورکولو، لویو پروژو او پراختیایي کارونو کې لګول کېږي.

له همدې امله د د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند تل وايي چې د هېواد د اقتصادي ښېرازۍ او همدارنگه خلکو ته د کار زمینې برابرولو په موخه لویو پروژو ته پاملرنه د افغانستان اسلامي امارت له لومړیتوبونو څخه ده. لکه څنگه چې نوموړي د کجکي برېښنا بند د دویم فاز د پرانېستې په مراسمو کې وویل: «د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ لپاره بشپړه ژمنتیا او ښه پروگرامونه لري. موږ خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوو چې په نږدې راتلونکي کې به په افغانستان کې د سترو اقتصادي بدلونونو شاهد وي.»

## پایله

په ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو ارزونې ته په پام سره، هغه څه چې باید تمرکز ورباندې وشي، د حکومت د پروگرامونو، فعالیتونو او مهمو اقتصادي پرېکړو په اړه د خلکو واقعي نظرونو اهمیت دی. لکه څنگه چې د کجکي برېښنا بند د دویم فاز د پرانېستې په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه ښيي چې خلک د هېواد په کچه لومړۍ درجه مسوول په توگه د حکومت هر اقدام ته متوجه دي.

د دې ترڅنگ د خلکو پوهاوی په ځانگړې توگه حکومت ته د خپلو سالمو وړاندیزونو په برخه کې چې د برېښنا لویو پروژو ته د پاملرنې تر څنگ د کرنې سکټور ته هم پاملرنه وکړي او خلکو په ځانگړې ډول ځوانانو ته د کار زمینه برابره کړي، د خلکو د غوښتنو پایله ده. د خلکو دغه وړاندیز په حقیقت کې د افغانستان اسلامي امارت له کاري لومړیتوب سره سمون خوري، چې د افغانستان زیربناوو، اقتصادي ودې او خلکو ته د کار زمینې برابرولو ته پاملرنه ده.

# له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولولو پروسې پیل




## سریزه:

په هېواد کې په ځانګړې توګه په لویو ښارونو کې یوه ستره ستونزه د سوالګرو زیاتوالی دی، چې له هغې ډلې یو پلازمېنه کابل ښار دی. د سوالګرو راټولولو کمېټې د موندنو پر اساس په کابل ښار کې ډېری سوالګر حرفوي دي او د ناچارۍ له امله ګدایي نه کوي، بلکې له دغه کار څخه د یوه مسلک په توګه د عوایدو پیدا کولو لپاره ګټه اخلي. د دې ستونزې د حل لپاره د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ هبةالله اخوندزاده (حفظه‌الله) په دستور د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د سوالګرو راټولولو کمېټې د کابل ښار په مختلفو سیمو کې عملاً کار پیل کړی دی. د هغې طرحې پر اساس چې د سوالګرو راټولولو کمېټې له لوري ترتیب شوې ده، هره ورځ لسګونه سوالګر د کابل ښار له مختلفو سیمو او سړکونو راټولېږي او د ارزونې لپاره د افغاني سرې میاشتې ټولنې ته لېږدول کېږي.

راټول شوي سوالګر د کمېټې له لوري لومړی ثبت او بایومیټریک کېږي، بیا هغه سوالګر چې کوم کسب یې زده وي، په اړونده برخه کې د کار زمینه ورته برابرېږي او له سرپرستانو څخه یې ژمنه اخیستل کېږي چې په راتلونکې کې ګدایي ونه کړي. همدارنګه هغه سوالګر چې رښتیا هم فقیر دي، هغوی ته حکومت ټاکلی معاش ورکوي او سوالګرو ماشومانو ته پر کار سربېره د زده کړو زمینه هم مساعدوي.

د رسمي شمېرو پر اساس د ګومارل شوې کمېټې له لوري د سوالګرو راټولو لړۍ تر پیلېدو وروسته د روان ۱۴۰۱ لمریز کال د قوس میاشتې تر ۱۲مې نېټې د کابل ښار له بېلابېلو سیمو ۱۹۰۷۲سوالګر راټول شوي دي. د راټولو شوو سوالګرو له جملې ۱۰۹۶۱ ښځینه دي چې تر ارزونې وروسته یې ٤٤٦٤ مستحقې او ٦٤٩٧

بيا حرفوي سوالګري پېژندل شوي دي. ۱۷۳۷ نور نارينه دي چې تر ارزونې وروسته يې ۶۳۴مستحق ګڼل شوي او ۱۱۰۳بيا حرفوي سوالګر دي. په راټولو شويو ۱۹۰۷۲سوالګرو کې ۶۳۷۴ماشومان دي چې له ډلې يې ۲۶۰۹مستحق، ۳۷۰۳حرفوي او ۶۲ بې‌سرپرسته دي. بې‌سرپرسته سوالګر ماشومان تر بايوميټريک وروسته د کار او ټولنيزو چارو وزارت روزنتون ته استول کېږي او هلته پر اعاشې سربېره د زده کړو او تعليم زمينه هم ورته برابرېږي. د افغاني سرې مياشتې ټولنې مستحقو سوالګرو ته د نغدي مرستو لړۍ پيل کړې، چې تر اوسه سلګونه کسان ترې برخمن شوي دي.

د کابل ښار خلک او راټول شوي سوالګر د دغه بهير له پيلېدو خوښي څرګندوي او وايي چې په دغې کار سره به د خلکو او سوالګرو ډېرې ستونزې حل شي او نبه ده چې د حکومت له لوري د دغه نامناسب کار مخنيوی وشي.

## له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولولو کمېټې موخه

له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولولو کمېټې اصلي موخه په کابل ښار کې د سوالګرو د ستونزو د هواري په موخه د اميرالمومنين شيخ صاحب هبة‌الله اخوندزاده د فرمان عملي کول دي، چې دا بهير له يوې خوا د خلکو د خوښۍ او له بلې خوا د هغو سوالګرو د رضايت لامل شوی چې واقعاً مستحق دي او ستونزې يې حل شوې دي.

## رسنيو کې «له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولولو» په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزوني ټولګه:




**یادونه**: په پورتني ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي، چې له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولولو خبر يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## په دولتي او خصوصي رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

#### تلويزيونونه




#### راډيوګاني



## ورځپاڼې




## آژانسونه




## ویب پاڼې




## ویاندویان




## دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونې ټولګه



## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ورځپاڼې




### ویب پاڼې




### آژانسونه




### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## «له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولولو» په اړه په ټولنیزو رسنیو کې د خلکو نظرونو تحلیل او تجزیه

### د خلکو نظرونو د تحلیل او تجزیې موخه:

په ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو تحلیل او تجزیه د خلکو د نظرونو د روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسئلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت ورکوي، چې د حکومت د اقتصادي تصمیمونو، فعالیتونو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### په افغانستان کې له ټولنیزو شبکو څخه د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د خلکو حضور او فعالیت وڅېړو، په افغانستان کې اکثریت خلک په فیسبوک کې فعال دي. خو په ټویټر کې رسمي-حکومتي کسان او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ډېر حضور لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او غیر رسمي کسان تر فیسبوک په ټویټر کې ډېر فعالیت لري. په افغانستان کې په ټویټر کې د عامو خلکو حضور تر فیسبوک کم دی.

خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او همدارنګه د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو له امله په فیسبوک او ټویټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او غیر رسمي راپورونه خپروي.

## رسنیو پورې په اړوندو ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو د شمېرو تحلیل او تجزیه:

په رسنیو پورې اړوند ټولنیزې شبکې پر دوو برخو وېشلی شو: خصوصي رسنۍ او دولتي رسنۍ.

۱. «په کابل ښار کې د سوالګرو راټولولو» راپور په اړه د خلکو د نظرونو د شمېر تحلیل او تجزیه د خبري آژانسونو، تلویزیونونو، راډیوګانو، وېبپاڼو او ورځپاڼو په ګډون د خصوصي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې ده. په خصوصي رسنیو پورې اړوند په ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبت او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر داسې دی، چې مثبت نظرونه ۶۳٪، منفي ۳۴٪ نظرونه او سالم وړاندیز ۱٪ دي.

۲. همدارنګه په کابل ښار کې د سوالګرو راټولولو راپور په اړه د خلکو نظرونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، خبري آژانسونو، ورځپاڼو، ویاندویانو، وېبپاڼو او ټویټرپاڼو په ګډون د دولتي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې دي، چې مثبت نظرونه ۴۲٪ منفي ۴۴٪ او سالم وړاندیزونه ۱۴٪دي.

که په خصوصي او دولتي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه د پورتنۍ ارزونې مطابق جمع کړو، په ټوله کې ۶۲٪ مثبت نظرونه، ۳۴٪ منفي نظرونه او ٤٪ سالم وړاندیزونه دي.

په دې ارزونه کې د پام وړ ټکی دا دی چې تر دولتي رسنیو په خصوصي هغو کې د خلکو مثبت نظرونه زیات دي. د خصوصي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې د مثبتو نظرونو شمېر ۶۳٪ او دولتي رسنیو کې بیا د مثبتو نظرونو شمېر ۴۲٪ دی.

د خصوصي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبتو نظرونو زیاتوالی تر دولتي هغو د بحث وړ دی. یعنې کوم عوامل اغېز او رول پکې درلودلی شي؟

د خصوصي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبتو نظرونو د زیاتوالي لامل دا دی چې دا موضوع خصوصي رسنیو ډېره خپره کړې او له همدې امله د ټولنې د دې سترې ستونزې په اړه د خلکو نظرونه زیات دي.

په افغانستان کې د سوالګرو راټولولو مسئله یوه ستره ستونزه ګڼل کېږي، چې په تېرو شلو کلونو کې د مرستې په نامه افغانستان ته د میلیونو ډالرو پر راتګ سربېره د مخکینۍ اداري تر سقوط وروسته خلکو د دې توان نه درلود چې څو میاشتې خپل عادي ژوند پر مخ بوځي. پر دې سربېره په تېرو شلو کلونو کې نه یوازې دا چې د فقر او بېوزلۍ ستونزه حل نه شوه، بلکې د زیربنایي پروژو د نشت او په هغو کې د خلکو د نه بوختیا له امله سوالګر ورځ په ورځ زیات شول.

دا په ټول افغانستان په ځانګړي ډول سترو ښارونو او بیا په پلازمېنه کابل کې یوه ستره ستونزه ده، چې د عالیقدر امیرالمومنین شیخ صاحب هبة‌الله اخوندزاده په دستور او د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج

ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د سوالګرو راټولولو کمېټې دا ستونزه په کابل ښار کې تر یوې کچې هواره کړه او د بشپړ هواري لپاره دا بهیر ادامه لري.

## ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول بیانولی شو:

- دا ښه کار وشو چې سوالګر راټولیږي او ټول بایومیټریک کیږي، ترڅو مشخص شي؛
- هیله ده چې دا حکم عملي شي او دا یو نېک کار دی. باید دقیقه سروې وشي چې څوک مستحق سوالګر دي او څوک په مسلکي ډول ګدایي کوي؛
- یو کار چې باید ترسره شي هغه دا چې د دغو بېوزلو، یتیمانو او کونډو لپاره یو مناسب ځای یا ځانګړې ښارګوټی جوړ شي؛
- له سوالګرو سره د مرستې تر څنګ یو مهم کار چې باید ترسره شي دا دی چې حکومت باید د کانونو له عوایدو څخه سترې فابریکې جوړې کړي. دا کار به د خلکو د ستونزو په بنسټیز حل کې اغیزمن وي؛
- فقر د فقر زېږنده دی. کله چې د سوالګرو له ستونزې څخه خلاص شوو، باید د فقر عوامل او اسباب نه وي. حل لاره دا ده چې وارداتي افغانستان پر صادراتي هغه بدل شي؛
- دا زیان منونکی قشر باید ډېر پیاوړی او لاسنیوی یې وشي او د کار او عاید زمینه ورته چمتو شي؛
- ډېر عالي؛ دا کار په تېرو شلو کلونو کې نه و شوی؛ ځکه ټول په چور او چپاول کې بوخت وو. اوس د خدمت کولو غوره وخت دی. الله جل‌جلاله دې دولت ته په دغه نېک کار کې توفیق ورکړي.

## ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په مطالعې سره په عمومي توګه څو مهمې مسئلې د پام وړ دي:

- **لومړی**، ډېرو خلکو په کابل ښار کې د سوالګرو راټولولو د پروسې هرکلی کړی او خوښي یې څرګنده کړې ده. یوه مسئله چې د سوالګرو د راټولو او د حکومت د دغه اقدام تر څنګ یې یادونه کړې، هغه د راټولو شوو سوالګرو ثبت/بایومیټریک او مشخصول دي. بله مسئله چې د خلکو په نظرونو کې لیدل کېږي هغه د دغه زیان‌منونکي پاړکي لاسنیوی دی.
- **دویم**، بله مهمه مسئله چې خلکو وړاندیز کړې ده په ټولنه کې د دې ستونزې بنسټیز حل دی. په دې اړه د خلکو په نظرونو کې ځینې وړاندیزونه منعکس شوي، دا غوښتنه یې پکې کړې چې فقراوو، یتیمانو او کونډو ښځو ته یو مناسب ځای او یا ځانګړی ښارګوټی جوړ کړل شي او د کار او عاید زمینه ورته مساعده شي.

**دربیم**، د خلکو یو جالب وړاندیز چې ډېر د پام وړ دی، هغه دا چې د سوالګرو ستونزې د حل په موخه دې حکومت د کانونو د استخراج او طبیعي زېرمو په عوایدو زیربنایي کارونه وکړي او سترې فابریکې دې جوړې کړي، ترڅو د خلکو د ستونزو د بنسټیز حل لپاره اغېزمن تمام شي. همدارنګه ځینې نورو نظرونو کې دا وړاندیز شوی چې فقر د فقر زېږنده دی، له دې امله د فقر اسباب او وسایل د اساسي زیربنا او سترو پروژو نشت دی، حکومت باید دا ډول پروژو ته پام وکړي.

**څلورم**، د خلکو له نظرونو څخه دا هم جوتېږي چې د دې ستونزې عوامل دې راوسپړل شي. لکه د خلکو په ځینو نظرونو کې راغلي چې د سوالګرو مسئلې ته په تېرو شلو کلونو کې پام نه دی شوی او دلیل یې هم په چور او چپاول کې د مخکیني اداري د مسوولانو بوختیا وه. واقعاً هم که په شلو کلونو کې زیربناوو او سترو پروژو ته پام شوی وای، د بېکارۍ کچه به دومره لوړه نه وه او د سوالګرو شمېر به هم نه زیاتېده.

همدارنګه زیربنایي پروژو ته پام ونشو، حداقل که د سوالګرو ستونزې حل ته پاملرنه شوې وای، اوس به ټولنه له دومره ستونزو سره مخ نه وه. د اسلامي امارت رهبرۍ د دې ستونزې د حل او د دې پالیسۍ په پلي کولو سره داسې کار ترسره کړی چې په تېرو شلو کلونو کې نه دی شوی. ځکه کله چې د حکومت له لوري په لومړني اقدام کې د ټولنې یوه زیان‌منونکي قشر ته پام کېږي، معنی یې دا ده چې د بنسټیزو زیربناوو او سترو ستونزو د حل لپاره اراده شته او دا ډول کارونه د خلکو او ټولنې د سوکالۍ او هوساینې لپاره یوه دریڅه کېدای شي.

## پایله

په هره ټولنه کې د سوالګرو ستونزه او په ټوله کې یو زیانمنونکی پاړکي شته. کله چې د نړۍ د سترو هېوادونو ټولنو ته وګورو، دغه ستونزه په هغوی کې هم شته. البته کچه یې له فقیرو او جنګ‌ځپلو هېوادونو سره توپیر لري. نو کومې پایلې ته چې په افغانستان په ځانګړې توګه په کابل کې ښار کې د سوالګرو ستونزو د حل په برخه کې د خلکو د نظرونو په رڼا کې رسېږو دا ده چې د حکومت دغه اقدام یو بې‌مخینې او د پاملرنې وړ اقدام دی.

حکومت د سوالګرو د ستونزو د حل لپاره یوه شفافه او بنسټیزه حل لاره سنجولې. کله چې سوالګر -چې ښځې، سړي، یتیم او بې‌سرپرسته ماشومان پکې شامل دي- راټولوي؛ لومړی ثبت او بایومیټریک کېږي. بیا که د ځینو سوالګرو کوم کسب زده وي، په اړونده برخه کې د کار زمینه ورته مساعدېږي او له سرپرستانو یې ژمنه اخیستل کېږي، ترڅو په راتلونکي کې ګدایي ونه کړي.

همدارنګه هغه سوالګر چې واقعاً فقیر دي او کار نه شي کولی، هغوی ته حکومت ټاکلې اندازه معاش ورکوي. پر دې سربېره د سوالګرو ماشومانو د زده‌کړې زمینه هم چمتو کېږي. که دا بهیر لکه څنګه چې پیل شوی، ادامه ومومي، په راتلونکي کې په ټول افغانستان کې د کابل له الګو څخه ګټه اخیستی شو، ترڅو په ټول هېواد کې د ټولنې یوه غټه ستونزه حل شي.

# د هېواد په شمال کې د قوش‌تېپې لوی کانال پیل





## سریزه

اوبه د دې تر څنګ چې د برېښنا د تولید لپاره یوه مهمه سرچینه ګڼل کېږي، پر دې سربېره د زرګونه هکتاره کرنیزې ځمکې د خړوبولو او حاصلخیزه کولو لپاره ډېر اهمیت لري. د افغانستان له پرېمانه اوبو څخه ګټه اخیستل د اوبو ارزښت پر واقعیت بدلوي. د اسلامي امارت تر حاکمیت وروسته پر زیربنایي پروژو تمرکز ډېر شوی. په دې برخه کې یوه ستره پروژه چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري پرانیستل شوې، د قوش‌تېپې د اوبو کانال پروژې پیل دی.

په روان ۱۴۰۱ لمریز کال کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د قوش‌تیپې کانال پروژه پرانیسته او عملي کار یې پیل شو. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه کانال د پرانیستې په مراسمو کې وویل: نن د خوشالۍ ورځ ده چې د افغانستان د ځورېدلي ملت هیله پوره کېږي. کله مې چې د دې پروژې په اړه د ملي پراختیا شرکت له مسوولینو سره خبرې وکړې، ډېر کارونه مې ودرول او یوازې د قوش‌تیپې کانال د کار پر پیل مې تمرکز وکړ. د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ لپاره بشپړه ژمنتیا او ښه پروګرامونه لري.

د قوش‌تېپې کانال د افغانستان په ځانګړي ډول د هېواد د شمال ولایتونو لپاره یوه ستره پروژه ګڼل کېږي دغه کانال ۲۸۵ کیلومتره اوږد، ۱۰۰ متره سورور، ۸.۵ متره ژور او په کانال کې د اوبو لوړوالی ۶.۵ متره دی. د قوش‌تېپې کانال په یوه ثانیه کې ۶۵۰ مترمکعبه اوبه له آمو سیند څخه بلخ، جوزجان او فاریاب ولایتونو دښتو ته انتقالوي، چې په بشپړېدو سره به یې د شمال سترې دښتې پرکرنیزو ځمکو او صنعتي سیمو بدلې شي.

د دغه کانال په جوړېدو سره به ۵۵۰ زره هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبه شي. پر دې سربېره افغانستان به د غنمو د تولید له مخې پر ځان بسیا شي او ښایي نورو هېوادونو ته یې هم د صادرولو وړتیا پیدا کړي. همدارنګه

د قوش‌تیپې کانال پـه اوږدو کـې حیرتـان کرنیـز کمپلکـس او یـو صنعتـي کمپلکـس هـم جوړېـږي. اوسـمهال د قوش‌تیپې کانال په پروژه کـې ۵۰۰۰ کسـانو تـه پـه مستقیمه توګه او زرګونـو نـورو تـه پـه غیـر مسـتقیمه توګـه د کار زمینـه برابـره شـوې ده.

## د پروژې موخه

د قوش‌تېپـې کانـال پـروژې د پیلولـو موخـه پـه بلخ، جوزجـان او فاریـاب ولایتونـو کـې د زرګونـه هکتـاره کرنیـزې ځمکـې خړوبـول دي. پـر دې سربېـره د دغـه کانـال پـه بشـپړېدو سره بـه د حیرتـان کرنیـز کمپلکـس او یـو صنعتـي کمپلکـس هـم جـوړ شي. لـه بلـې خـوا د قوش‌تېپـې کانـال پـه جوړېـدو سره د اوبـو مدیریـت یـا د افغانسـتان لـه پریمانـه طبیعـي اوبـو څخـه ګټـه اخیسـتنه پـه عملـي توګـه تحقـق مومـي.



## رسنیو کې «د قوش‌تېپې کانال د پروژې پرمختګ» په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزوني ټولګه




**یادونه**: په پورتني ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي، چې د قوش‌ټیپې کانال د کار پرمختګ خبر یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## په دولتي او خصوصي رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه:

#### تلویزیونونه




#### ویاندویان



### ټویټر پاڼې




### دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونې ټولګه




## ۲- خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ورځپاڼې




### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د قوش‌تېپې کانال د پروژې په اړه په ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو تحلیل او تجزیه

### د خلکو د نظرونو د تحلیل او تجزیې موخه:

په ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو تحلیل او تجزیه د خلکو د نظرونو د روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسئلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت ورکوي، چې د حکومت د اقتصادي تصمیمونو، فعالیتونو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندېزونه شریک کړي. له دې امله مسوولین له دغو نظرونو څخه په ګټې اخیستنې په راتلونکې کې د خلکو له غوښتنو او وړاندیزونو سره سم لازمې پرېکړې کولی شي.

### په افغانستان کې له ټولنیزو شبکو څخه د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د خلکو حضور او فعالیت وڅېړو، په افغانستان کې اکثریت خلک په فیسبوک کې فعال دي. خو په ټویټر کې رسمي-حکومتي کسان او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ډېر حضور لري. له همدې امله د افغانستان د اسلامي امارت رسمي او غیر رسمي کسان تر فیسبوک په ټویټر کې ډېر فعالیت لري. په افغانستان کې په ټویټر کې د عامو خلکو حضور تر فیسبوک کم دی.

خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او همدارنګه د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو له امله په فیسبوک او ټویټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او غیر رسمي راپورونه خپروي.

## رسنیو کې د خلکو نظرونو تحلیل او تجزیه:

په رسنیو پورې اړوند ټولنیزې شبکې پر دوو برخو وېشلی شو: خصوصي رسنۍ او دولتي رسنۍ.

۱. «د قوش‌تیپې کانال د کاري پرمختګ» راپور په اړه د خلکو د نظرونو تحلیل او تجزیه د خبري آژانسونو، تلویزیونونو، راډیوګانو، وېبپاڼو او ورځپاڼو په ګډون د خصوصي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې ده. په خصوصي رسنیو پورې اړوند په ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبت او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر داسې دی، چې مثبت نظرونه ٦٥٪، منفي نظرونه ۳۲٪ او سالم وړاندیزونه ۳٪ دي.

۲. خو «د قوش‌تیپې کانال د کار پرمختګ» راپور په اړه د خلکو نظرونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، خبري آژانسونو، ورځپاڼو، ویاندویانو، وېبپاڼو او ټویټرپاڼو په ګډون د دولتي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې دي، چې مثبت نظرونه ۵۱٪، منفي نظرونه ۴۴٪ او سالم وړاندیزونه ۵٪ دي.

که په خصوصي او دولتي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه د پورتنۍ ارزونې مطابق جمع کړو، په ټوله کې ٦۲٪ مثبت نظرونه، ۳۵٪منفي نظرونه او ۳٪ سالم وړاندیزونه دي.

په دې ارزونه کې د خصوصي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې تر دولتي هغو د خلکو مثبت نظرونه زیات دي. د خصوصي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبت نظرونه ٦۵٪ او په دولتي هغو کې د خلکو مثبت نظرونه ۵۱٪ دي. په ټولنیزو رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو زیاتوالي عوامل څه دي؟

دا چې د قوش‌تیپې کانال د کاري پرمختګ راپور په اړه په ټولنیزو رسنیو کې د خلکو مثبت نظرونه زیات دي، عوامل یې دا دي چې خصوصي رسنیو دا راپور ډېر خپور کړی دی. په دې مانا هر څومره چې رسنۍ راپور ډېر خپور کړي، په هماغه کچه به د خلکو نظرونه زیات وي. نو د نظرونو په زیاتوالي سره د مثبتو نظرونو کچه هم لوړېږي.

د قوش‌تیپې کانال پروژه د هېواد د شمال د سترو وچو دښتو د اوبولو په برخه کې یوه ستره او بې‌سارې پروژه ده، چې په یوه ثانیه کې ٦۵۰ مترمکعبه اوبه له آمو سیند څخه د بلخ، جوزجان او فاریاب ولایتونو دښتو ته انتقالوي، چې په بشپړېدو سره به یې د شمال سترې دښتې پر کرنیزو ځمکو او صنعتي سیمو بدلې شي.

اوسمهال د قوش‌تېپې کانال پروژې ۳۰۰۰ کسانو ته په مستقیمه توگه او زرگونو نورو ته په غیر مستقیمه توگه د کار زمینه برابره کړې ده.

همدارنگه د قوش‌تېپې کانال شاوخوا په ۸٦۰ زره جریبه ځمکه کې د حیرتان کرنیز کمپلکس او په ۲۵ زره جریبه ځمکه کې د یوه صنعتي کمپلکس د سروې او ډیزاین کار د بشپړېدو په حال کې دی. که دغه پروژه گټه اخیستنې ته چمتو شي، د هېواد پر ځان بسیاینه کې په ځانگړې توگه د غنمو د تولید له اړخه به یو بې‌ساري گام پورته شي.

## په ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول بیانولی شو:

- د قوش‌تیپې کانال پروژه د کرنې په برخه کې د افغانستان په کچه یو ستر اقدام دی. په دغه ستر تحول سره باید افغانستان نورو هېوادونو ته غنم صادر کړي؛
- دا کار د افغانستان په ځانگړې توگه د هېواد د شمال خلکو په خیر دی؛ هغه کار چې پخوانۍ اداره یې په ۲۰ کلونو کې په ترسره کولو بریالۍ نه شوه. ښایي یو لامل یې د هغې اداري توپیري چلند و. په هر صورت ځینو کسانو تل پر منفي خبرو عادت کړی دی، له دې امله غوره ده چې د منفي خبرو پر ځای د دغه ډول پروژو هرکلی وکړو، ځکه دا د ټولو خلکو په گټه ده؛
- د قوش‌تیپې کانال هغه پروژه ده چې له څو ولایتونو تېرېږي او زرگونه جریبه ځمکه خړوبوي او بهر ته د هېواد د خوړو اوبو د تگ مخنیوی کوي. ښېرازي او سمسورتیا رامنځته کوي او زرگونو کسانو ته د کار زمینه مساعدوي، چې دا د هېواد لپاره روښانه راتلونکی لري. په دې هیله چې د هېواد د نورو سیندونو د مهارولو هڅه وشي او د زرغونتیا لپاره گټه ترې واخیستل شي؛
- په هر ترتیب چې وي، دغه کانال باید بشپړ شي، له دې پرته به د افغانستان لاس تل د نورو هېوادونو ته اوږد وي. همدارنگه حکومت د جنوبي ولایتونو اوبه هم مدیریت کړي، ترڅو د هېواد خوږې اوبه همسایه هیوادونو ته ولاړې نه شي. له الله تعالی نه غواړم چې زموږ خلک له اسماني او ځمکنیو بلاوو نه وساتي.

## په ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په مطالعې سره په عمومي توګه څو مهمې مسئلې د پام وړ دي:

- **لومړی**، پـه دې کـې شـک نشـته چـې د قوش‌تیپـې د اوبـو کانـال پـروژه لـه سـترو زیربنایـي پـروژو څخـه ده، ځکـه د آمـو سـیند لـه خـوړو اوبـو څخـه چـې لـه ګنـې اخیسـتنې پرتـه روانـې دي- د هېـواد پـه شـمال کـې د بلـخ، جوزجـان او فاریـاب ولایتونـو زرګونـه هکتـاره ځمکـې خړوبـوي. دا کانـال بـه پـه هېـواد کـې د غنمـو د تولیـد پـه ډګـر کـې سـتر بدلـون راولـي. لـه همـدې املـه د خلکـو پاملرنـه او د دې پـروژې د اهمیـت درک کـول د دا ډول پـروژو پـه پیلولـو کـې د حکومـت پـه هڅونـه کـې اغېزمـن تمامېـدای شي.
- **دویـم**، دا بایـد هېـره نـه کـړو چـې پـر میلیاردونـو ډالـرو مرسـتو سربېـره پخوانـۍ اداري پـه تېـرو شـلو کلونـو کـې دومـره لویـې پـروژې پیـل نـه کـړای شـوې. خـو اسـلامي امـارت لـه پخوانـۍ اداري څخـه ورپاتـې ډېـرو سـتونزو، د مرسـتو بندېـدو، همـدا راز د بېـکارۍ، فقـر او د سـوالګرو د سـتونزو پـر حـل سربېـره د دا ډول سـترو پـروژو جـوړول او پیلـول خپـل لومړیتـوب ګڼـي. بیلګـه یـې د قوش‌تېپـې کانـال د جوړولـو لګښـت دی چـې لـه داخلـي بودیجـې څخـه ورتـه ځانګـړی شـوی دی. د دې موضـوع اهمیـت د خلکـو پـه نظرونـو کـې هـم منعکـس شـوی، چـې د حکومـت د اقداماتـو پـه اړه د خلکـو بصیـرت څرګنـدوي.
- **دریـم**، د قوش‌تېپـې کانـال د اوبـو لګولـو او د هېـواد د څـو ولایتونـو د ځمکـو تـر پوښـښ لانـدې راوسـتو او همدارنګـه د هېـواد د اوبـو مدیریـت لـه املـه خـورا مهـم دی. دغـه کانـال پـه یـوه ثانیـه کـې ۶۵۰ مترمکعبـه اوبـه لـه آمـو سـیند څخـه بلـخ، جوزجـان او فاریـاب ولایتونـو دښـتو تـه انتقالـوي، چـې لـه یـوې خـوا د دغـو ولایتونـو بېلابېلـې سیمې شـېرازه او سمسـورې کـوي او لـه بلـې خـوا د دغـو سـیمو خلکـو تـه پـه زرګونـو کاري فرصتونـه برابـروي.
- **څلـورم**، هغـه مهمـه خبـره چـې د خلکـو پـه نظرونـو کـې یـې انعـکاس موندلـی، دا ده چـې خلـک د حکومـت لـه لـوري د دا ډول پـروژو د پیلولـو د اهمیـت پـر درک سربیـره د افغانسـتان د اوبـو مدیریـت تـه هـم متوجـې دي. لـه همـدې املـه پـه ډېـرو نظرونـو کـې خلکـو د هېـواد پـه شـمال کـې د قوش‌تیپـې د اوبـو د کانـال پـروژې د جوړېـدو د هـرکلي تـر څنـګ د هېـواد پـه تېـره بیـا د جنـوبي ولایتونـو د خـوړو اوبـو او مسـتو سـیندونو د مدیریـت غوښـتنه کـړې، چـې د همسـایه هیوادونـو تـه بهیـږي. دا پـه حکومـت پـورې اړه لـري چـې پـه دې برخـه کـې اقـدام وکـړي.

## پایله

په تېرو دوو لسیزو کې سره له دې چې افغانستان ته په میلیاردونو ډالر راغلل، خو د تېر کال سیاسي بدلونونو په راتګ سره خلکو د فقر، بېکارۍ او په ټوله کې د بنسټیزو پروژو د نشتوالي له امله چې خلکو ته یې د کار زمینه برابره کړې وای، په محدوده موده کې خپل عادي ژوند پر مخ نشوای بېولی. دا په حقیقت کې ژور فساد او د خلکو د چارو او د هېواد اړتیاوو په اړه د پخوانۍ اداري بې‌تفاوتي څرګندوي.

خو لیدل کېږي چې د اسلامي امارت له راتګ وروسته یوه مهمه مسئله چې پر اقتصادي ستونزو او مرستو بندېدو سربېره- عملاً تمرکز پرې شوی، هغه د زیربنایي پروژو پیلول دي. له دې جملې څخه یوه ستره پروژه چې د افغانستان اسلامي امارت پیل کړې، د قوش تېپې د اوبو کانال دی.

د قوش‌تېپې کانال په جوړېدو سره به ۵۵۰ زره هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبه شي. پر دې سربېره د قوش‌تیپې کانال په اوږدو کې حیرتان کرنیز کمپلکس او یو صنعتي کمپلکس هم جوړېږي. د دې پروژې په بشپړېدو سره به افغانستان د غنمو د تولید له مخې پر ځان بسیا شي او بنایي نورو هېوادونو ته یې هم د صادرولو وړتیا پیدا کړي. په دې توګه د قوش‌تېپې کانال جوړېدل به د غنمو په تولید کې یو ستر پرمختګ رامنځته کړي.

# له ګاک کمپنۍ سره د هوايي ډګرونو د تړون لاسلیک



**سریزه:**

په اوسنۍ نړۍ کې د هېوادونو اهمیت او رول داسې دی چې هېوادونه د خپلو اړتیاوو له مخې په بېلابېلو برخو کې یو له بل سره اړیکي لري. له ډیپلوماسۍ نیولې تر هوايي کرښو او له سوداګرۍ نیولې تر سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او بشري اړیکو پورې، دا ټول د هېوادونو په متقابلو اړیکو کې رول لوبوي. په دغو ټولو کې جغرافیايي موقعیت او فضايي اهمیت د هېوادونو او لویو وچو د نښلولو نقطې په توګه خورا مهم دی. له همدې امله د افغانستان موقعیت د منځنۍ اسیا، جنوبي اسیا او منځني ختیځ د نښلولو د څلورلارې په توګه ډېر مهم دی.

افغانستان ته ورته په وچه کې ایساره جغرافیه کې له هېوادونو سره د اړیکو ټینګولو او همدارنګه د سیاسي او فرهنګي اړیکو د ټینګښت او د مهمو سوداګریزو توکو د انتقال لپاره پولې او هوايي ډګرونه د ټولو اړخو لپاره یوه اړتیا ګڼل کېږي. نو همدې اړتیا ته په کتو په روان ۱۴۰۱ لمریز کال کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په ګډون د ترانسپورت او هوايي چلند وزارت او د متحده عربي اماراتو د «ګاک» شرکت ترمنځ د «کابل، کندهار او هرات په هوايي ډګرونو کې د الوتنو د ځمکنیو خدمتونو تړون» لاسلیک شو.

د دغه تړون د لاسلیک په مراسمو کې الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند وویل: د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي پیاوړتیا لپاره خپلې ټولې هلې ځلې کوي، ترڅو له دغه قرارداد سره ټول نړیوال هوايي شرکتونه په امن فضا کې افغانستان ته خپلې الوتنې پیل کړي. په دې توګه به د سوداګرۍ کچه او د مسافرینو تګ‌راتګ زیات شي.

همدارنګه د روان کال د سنبلې په ۱۷مه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په حضور کې د ترانسپورت او هوايي چلند وزارت او د متحده عربي اماراتو د ګاک شرکت ترمنځ د «هوايي لاربښوونو د خدمتونو تړون» لاسلیک شو. تر دي وړاندې د ترانسپورت او هوايي چلند وزارت او ګاک شرکت ترمنځ د «کابل، کندهار او هرات هوايي ډګرونو د هوايي چلند امنیت تړون» لاسلیک شوی وو.

د دغو تړونونو لاسلیک به د نړیوالو الوتنو په بیا پیل کې مرسته وکړي او دا چاره د هېواد پر اقتصاد مثبت اغېز لري. دغه راز هغه الوتکې چې د افغانستان له هوايي حریم څخه تېرېږي او یا هم په نړیوالو هوايي ډګرونو کې کښېني، په نړیواله کچه به هوايي لارښوونې ورته چمتو شي، د الوتکو خوندیتوب به تامین شي او د عبوري الوتنو د عوایدو سرچینه به بېرته پرانیستل شي. همدارنګه قراردادي شرکت به افغانان د هوايي لارښوونو خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې وروزي.

## د هوايي ډګرونو د تړون د لاسلیک موخه

د افغانستان د هوايي ډګرونو د قرارداد د لاسلیک موخه د نړیوالو الوتنو بیا پیل، د سوداګرۍ پیاوړتیا او د داخلي بشري ځواک د ظرفیت لوړول او روزنه ده. د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د اقتصاد د پیاوړتیا لپاره خپلې ټولې هلې ځلې کوي، ترڅو له دغه تړون سره ټول نړیوال هوايي شرکتونه په امن فضا کې افغانستان ته خپلې الوتنې پیل کړي. په دې توګه به د سوداګرۍ کچه او د مسافرینو تګ‌راتګ زیات شي.

### په رسنیو کې د هوايي ډګرونو د تړون په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

**الف: دولتي رسنۍ**




**ب: خصوصي رسنۍ**



## د دولتي او خصوصي رسنيو ارزونې ټولګه:




**يادونه**: په پورتني ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي، چې له ګاک کمپنۍ سره د هوايي ډګرونو د ترون لاسليک راپور يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## دولتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱. په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

#### تلويزيونونه




#### ويانډويان



## دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونې ټولګه




## ۲. خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### ورځپاڼې




### راډیوګانې




### آژانسونه



### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




### خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## له ګاک کمپنۍ سره د هوايي ډګرونو د تړون لاسلیک په اړه په ټولنیزو رسنیو کې د خلکو نظرونو تحلیل او تجزیه

### د خلکو نظرونو د تحلیل او تجزیې موخه:

په ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو تحلیل او تجزیه د خلکو د نظرونو د روښانتیا او هغوی ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسئلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت ورکوي، چې د حکومت د اقتصادي تصمیمونو، فعالیتونو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندېزونه شریک کړي. له دې امله مسوولین له دغو نظرونو څخه په ګټې اخیستنې سره په راتلونکي کې د خلکو له غوښتنو او وړاندیزونو سره سم لازمې پریکړې کولی شي.

### په افغانستان کې له ټولنیزو شبکو څخه د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د خلکو حضور او فعالیت وڅېړو، په افغانستان کې اکثریت خلکو په فیسبوک کې فعال دي. خو په ټویټر کې رسمي-حکومتي کسان او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ډېر حضور لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او غیر رسمي کسان تر فیسبوک په ټویټر کې ډېر فعالیت لري. په افغانستان کې په ټویټر کې د عامو خلکو حضور تر فیسبوک کم دی.

خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او همدارنګه د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو له امله په فیسبوک او ټویټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او غیر رسمي راپورونه خپروي.

## په رسنیو کې د خلکو نظرونو تحلیل او تجزیه:

په رسنیو پورې اړوند ټولنیزې شبکې پر دوو برخو وېشلای شو: خصوصي رسنۍ او دولتي رسنۍ.

۱. «له ګاک کمپنۍ سره د هوایي ډګرونو د تړون لاسلیک» راپور په اړه د خلکو نظرونو تحلیل او تجزیه د تلویزیونونو او ویاندویانو په ګډون د دولتي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې دي، په دولتي رسنیو پورې اړوند ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبت او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر داسې دی چې مثبت نظرونه ۵۱٪، منفي نظرونه ۳۶٪ او سالم وړاندیزونه ۱۳٪ دي.

۲. همدارنګه «له ګاک کمپنۍ سره د هوایي ډګرونو د تړون لاسلیک» راپور په اړه د خلکو نظرونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، خبري آژانسونو او ورځپاڼو په ګډون د خصوصي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې ده، چې مثبت نظرونه ۵۰٪، منفي ۴۸٪ او سالم وړاندیزونه ۲٪ دي.

که په خصوصي او دولتي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۴۸٪ مثبت نظرونه، ۴۹٪منفي نظرونه او ۳٪ سالم وړاندیزونه دي. په دې ارزونه کې د دولتي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې تر خصوصي هغو د خلکو مثبت نظرونه زیات دي. د دولتي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبتو نظرونو زیاتوالي عوامل څه دي؟

دا چې «له ګاک کمپنۍ سره د هوایي ډګرونو د تړون لاسلیک» راپور په اړه د دولتي رسنیو په ټولنیزو شبکو کې تر خصوصي هغو د خلکو مثبت نظرونه زیات دي، عوامل یې دا کېدای شي چې د خلکو پاملرنه د نړیوالو کمپنیو پانګونې او د هغو راجلبولو ته زیاته ده.

د دا ډول تړونونو لاسلیک د نړیوالو الوتنو په بیا پیل او د مسافرینو د شمېر په زیاتوالي کې اغېزمن تمامېږي او دا کار به د هېواد پر اقتصاد مثبت اغېز وکړي. پر دې سربېره افغانستان ته د نړیوالو هوایي الوتنو زمینه مساعدوي.

د اسلامي امارت د پر له پسې هلو ځلو په پایله کې تر دې دمه د ترانسپورت او هوایي چلند وزارت او د متحده عربي اماراتو د ګاک شرکت ترمنځ، «د کابل، کندهار، هرات او بلخ څلورو هوایي ډګرونو د هوایي چلند امنیت تړون» او «د هوایي لاربښوونو د خدمتونو تړون» لاسلیک شوي دي. دغه تړونونه د افغانستان په فضا کې د نړیوالو شرکتونو د الوتنو د پیل، د مسافرو د تګ‌راتګ او د سوداګرۍ د کچې د لوړولو لپاره مهم دي.

## په ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول بیانولی شو:

- افغانستان ته د نړیوالو شرکتونو د الوتنو پیل یو نېک اقدام دی. ځکه له یوې خوا د سوداګرۍ او مسافرینو د تګ‌راتګ زمینه برابروي او له بلې خوا د دولت عواید ورسره لوړېږي؛
- حکومت باید د هوایي ترانسپورت تر څنګ ځمکني ترانسپورت ته، په ځانګړې توګه بهرنیو مارکیټونو ته د مېوو د لېږد په برخه کې ډېره پاملرنه وکړي، چې له یوې خوا د کروندګرو د ملاتړ لامل ګرځي او له بلې خوا د دولت عواید زیاتوي؛
- حکومت باید له نړیوالو شرکتونو سره د هوایي چلند تړونونو د لاسلیک کولو تر څنګ د افغانستان د فضایي حریم د ساتنې لپاره هوایي رادارونه فعال کړي او که نه وي، دې مسلې ته دې جدي پاملرنه وکړي؛
- کله چې د متحده عربي اماراتو اړوند شرکت سره تړون لاسلیک کېږي، دوی باید افغانانو ته د ګرځندوی او سوداګرۍ ویزو د ورکړې پروسه روانه وساتي؛
- د هرې برخې لپاره تخنیکي او مسلکي کسانو ته اړتیا ده. د همدې لپاره باید د تخنیکي او مسلکي کسانو د روزنې لپاره د خپل بشري ځواک او د هېواد له لوستو ځوانانو څخه کار واخیستل شي.

## په ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په مطالعې سره په عمومي ډول څو مهمې مسئلې د پام وړ دي:

- **لومړی**، د هوایي چلند په برخه کې د تړونونو لاسلیک د مسافرینو د تګ‌راتګ او هم د هوایي سوداګرۍ بهیر د پیل له امله د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ شو. افغانستان ته د نړیوالو الوتنو پیل او برعکس له افغانستان څخه نورو هېوادونو ته الوتنې پر ډېرو بهیرونو اغېز کولی شي؛ د داخلي او بهرنیو مسافرو له تګ‌راتګ نیولې تر سوداګرۍ او د افغانستان له فضا څخه تر هوایي الوتنو.
- **دویم**، یوه مهمه مسئله چې د خلکو په نظرونو کې څرګنده شوې، هوایي ترانسپورت ته د حکومت د پاملرنې تر څنګ، چې د هېواد په اوسني وضعیت کې مهم ګڼل کېږي، ځمکني ترانسپورت هم مهم دی. ځکه د پخوانۍ اداري پر مهال ځینو ګاونډیو هېوادونو د افغانستان د مېوو او سبزیجاتو د حاصلاتو په موسم کې خپلې ځمکنۍ پولې د افغان سوداګرو پر مخ تړلې او د خپل هېواد د مېوو د حاصلاتو په موسم کې یې د سوداګرو پر مخ پرانیستې. دا چاره د دې لامل کېده چې د افغانستان میوې او سبزیجات د لارې په اوږدو کې خوسا او یا هم په افغانستان کې دننه په ټیټه بیه وپلورل شي. له همدې امله د هوایي ترانسپورت تر څنګ د حکومت لپاره اړینه ده چې ځمکني ترانسپورت ته هم پاملرنه وکړي، چې خلکو هم اشاره ورته کړې ده.

**درېیم**، لـه ګاک شرکت سره د هوایـي تړونونو لاسلیک تـه د خلکو پاملرنـه لـه دې املـه مهمـه ده چـې لـه ګاک شرکـت سره د تـړون د لاسـلیک پـه اړه پـه ځینـو نظریاتـو کـې د افغانسـتان د فضـا او حریـم د سـاتنې لپـاره د هوایـي رادارونـو د جوړولـو خـبرې شـوې دي. دا مسـئله د یـوه هېـواد د هوایـي امنیـت لـه نظـره ډېـره مهمـه ده.

**څلـورم**، لـه هغـو مهمـو غوښـتنو څخـه چـې د خلکـو پـه نظرونـو کـې ذکـر شـوې، دا نظـر د غـور وړ دی. د ځینـو خلکـو پـه نظرونـو کـې دا غوښـتنه شـوې چـې د متحـده عـربي اماراتـو اړونـد د ګاک شرکـت سره د تـړون پـه لاسلیک کولـو سره دوسـت هېـواد متحـده عـربي امـارات د افغانانـو لپـاره د ګرځنـدوی او سـوداګرۍ ویـزې خلاصـې وسـاتي. همدارنګـه حکومـت بایـد د دې مسـئلې تـر څنـګ د تخنیکـي کسـانو پـه روزنـه کـې لـه داخلـي بـشري منابعـو او لوسـتو ځوانانـو کار واخلـي.

د ترانسـپورت او هوایـي چلنـد وزارت او د متحـده عـربي اماراتـو د «ګاک» شرکـت ترمنـځ د «هوایـي لارښـوونو خدماتـو تـړون» د لاسـلیک لـه شرایطـو څخـه یـو د نړیوالـو الوتنـو پـر بیـا پیلولـو سربیـره، د مسـافرینو د تګ‌راتـګ زیاتوالـی، د سـوداګرۍ پـر بهیـر اغېـز او افغانانـو تـه د هوایـي لارښـوونو خدمتونـو چمتـو کولـو پـه برخـه کـې د روزنـې زمینـه برابـرول دي. کـه د دې مسـلې اهمیـت تـه دقـت وشي، پـه راتلونکـو څـو کلونـو کـې بـه روزل شـوی ځـوان ځـواک د هوایـي لارښـوونو خدمتونـو چمتـو کولـو پـه برخـه کـې ډېـر هغـه مسـایل پـه خپلـه تـرسره کـوي، چـې ګاک شرکـت یـې وړانـدې کـوي.

لـه ګاک کمپنـۍ سره د هوایـي خدمتونـو د تـړون لاسـلیک پـه افغانسـتان کـې د نـورو شرکتونـو د پانګونـې لپـاره هیلـې زیاتـې کـړې او دا د کار د پیـل ټکـی ګڼـل کېـږي. د فضـا د اهمیـت پـه پـام کـې نیولـو سره، پـه ځانګـړې توګـه د افغانسـتان لـه فضـا څخـه د الوتکـو د تېرېـدو پـه برخـه کـې، دا موضـوع د عوایـدو پـه وده کـې مرسـته کولـی شي.

د افغانسـتان جغرافیـه چـې پـه وچـه کـې را ایسـاره ده د ځمکنیـو پولـو تـر څنـګ، هوایـي حریـم د سـوداګرۍ او د کورنیـو او بهرنیـو مسـافرو د تـګ راتـګ لپـاره مهمـه ده. پـه دې برخـه کـې د اسـلامي امـارت هلـې ځلـې او توجـه د ګټـورو اقداماتـو لامـل شـوه. د اسـلامي امـارت د بریـا پـه یـوه کال کـې د افغانسـتان پـه هوایـي ډګرونـو کـې د هوایـي او ځمکنیـو خدمتونـو د وړانـدې کولـو پـه برخـو کـې د ۳ تړونونـو لاسـلیک کـول یـوه ښـه لاسـته راوړنـه بلـل کېـږي.

## پایله

دا چې د افغانستان جغرافیایي موقعیت له دې امله مهم دی چې د منځنۍ او جنوبي اسیا او منځني ختیځ د هېوادونو تر منځ د اتصال ټکی دی، نو د هوایي خدمتونو د ترونونو لاسلیک کول د نړیوالو الوتنو د پیل او د داخلي او بهرنیو مسافرو د تګ‌راتګ، تجارت او تر ټولو مهمه دا چې د هېواد ځوانانو لپاره د زده‌کړې زمینه برابروي. پردې سربیره په نړیواله کچه د الوتنو لپاره د شرایطو په برابرېدو سره، د افغانستان طبیعي سیمو ته د سیلانیانو د پام اړولو له امله د ګرځندوی صنعت په برخه کې هم مثبت اغېز کولی شي.

د هوایي چلند په برخه کې ترونونه لاسلیک کول له یوې خوا د نړیوالو الوتنو په پیلولو کې اغېزمن دي او له بلې خوا د اقتصادي ودې په بهیر کې مرسته کوي. دا چاره د مسافرینو د تګ‌راتګ، سیاسي، تجارتي، خلکو او همدارنګه د سیاسي استازو او نړیوالو سازمانونو استازو د اړیکو د زیاتوالي لامل کېدلی شي. همدارنګه ګاونډیو او د سیمې هېوادونو لکه پاکستان، ایران، منځنۍ اسیا، هند، ترکیې، قطر، متحده عربي اماراتو، سعودي عربستان، روسیې، چین او نورو هېوادونو ته د کار او سوداګرۍ لپاره د افغانانو تګ‌راتګ پر اقتصاد او له افغانستان سره د اړیکو پر زیاتوالي مستقیم اغېز لري.

دغه راز افغانستان ته د نړیوالو هوایي شرکتونو د الوتنو په پیلېدو سره به د سترو پروژو په ځانګړي ډول د طبیعي زیرمو په برخه کې د پانګونې زیاتوالي ته پاملرنه وشي او د دې ترڅنګ به نړیوالو بازارونو ته د افغانستان صادراتي توکي زیات شي. په دې حساس پړاو کې په دې برخه کې پانګونې ته پاملرنه ډېر نور اقتصادي فرصتونه هم رامنځته کولای شي.

# د اوبو او انرژۍ په سکتور کې د ملي او نړیوالو خصوصي پانګوالو د جلب او هڅونې کنفرانس ته د الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند وینا




**سریزه:**

د افغانستان اسلامي امارت تر بریا وروسته داسې ګنګوسې وې چې په افغانستان کې به د پانګونې جلبول او هغې ته لېوالتیا به په بشپړه توګه له منځه ولاړه شي. خو د سرتاسري امنیت په ټینګېدو سره، چې د خلکو یوه مهمه اړتیا ده، په افغانستان کې داخلي او بهرنۍ پانګونې ته زمینه برابره شوې ده. دا واقعیت په تېرو شلو کلونو کې د تیرې اداري لپاره یو خوب او خیال و، چې هیڅکله په حقیقت بدل نشو.

د اسلامي امارت په راتګ سره د افغانستان د طبیعي زیرمو د استخراج په برخه کې د پانګونې د جلب زمینه برابره شوه. له منځنۍ اسیا څخه جنوبي اسیا ته د انرژۍ د لېږد د سترو پروژو د کار پیل، د افغانستان په بکرو زیرمو کې د پانګونې لپاره د هېوادونو او لویو شرکتونو چمتووالي او همدارنګه د ملي او بین‌المللي پانګونې د جلب او هڅونې لپاره د اسلامي امارت هڅو دا مسئله تر پخوا ډېره ګړندۍ کړې ده.

د روان ۱۴۰۱ هـ.ش کال د اسد په ۲۰مه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند «د اوبو او انرژۍ په سکتورونو کې د ملي او نړیوالو خصوصي پانګونو د جلب او هڅونې کنفرانس» کې وویل: «موږ له سوداګرو او پانګوالو غواړو چې د هېواد په بیارغونه او ځان بساینه کې همکاري او پانګونه وکړي. اسلامي امارت هغو سوداګرو ته چې غواړي په افغانستان کې پانګونه وکړي، هر ډول امکانات چمتو کولی شي.» د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه: «موږ ولس ته ډاډ ورکوو چې د کانونو د استخراج، بندونو په جوړولو

او نـورو برخـو کـې پانګونـه او کارونـه ورځ پـه ورځ زیاتېـږي. اسـلامي امـارت هڅـه کـوي چـې د هېـواد سـتونزې حـل کـړي، ځکـه دا هېـواد بایـد مـوږ خپلـه جـوړ کـړو. لـه دې املـه لـه سـوداګرو او پانګوالـو غـواړو چـې د هېـواد پـه بیارغونـه او ځـان بسـاینه کـې همکاري او پانګونـه وکـړي. پـه دغـه کار سره یـې نـه یـوازې هېـواد او خلکـو تـه خیـر رسـېږي، بلکـې دوی تـه خپلـه هـم ګټـه رسـوي.»

د افغانسـتان طبیعـي سرچینـو تـه پـه پـام سره د پانګونـې ډېـر فرصتونـه شـته دي. د څېړنـو پـر اسـاس د افغانسـتان زېرمـې تـر یـوه ټریلیـون ډالـرو زیاتـې اټـکل شـوي دي. د اوبـو پـه ګـډون د افغانسـتان پریمانـه طبیعـي زېرمـو تـه پـه کتـو د انـرژۍ او اوبـو پـه سـکتور کـې د ملـي او نړیوالـو پانګونـو راجلبولـو او هڅولـو کنفرانـس د افغانسـتان د طبیعـي اوبـو مدیریـت یـوه مهمـه اړتیـا ګڼـل کېـږي.

## د اوبو او انرژۍ په سکتور کې د پانګونې د جذب او هڅونې موخه

دا چـې افغانسـتان د اوبـو پراخـې طبیعـي سرچینـې لـري، نـو د برېښـنا د تولیـد لپـاره د انـرژۍ پـه سـکتور کـې د پانګونـې راجلبـول د خلکـو او دولـت یـوه مهمـه اړتیـا ګڼـل کېـږي. ځکـه برېښـنا یـوه مهمـه او پاکـه انـرژي ده چـې د هېوادونـو پـه اقتصـادي وده کـې رول لوبـوي.

## رسنیو کې «د اوبو او انرژۍ په سکتور کې د پانګونې د جلب او هڅونې کنفرانس» په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې ټولګه




**یادونه**: په پورتني ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي، چې د اوبو او انرژۍ په سکتور کې د پانګونې د جلب او هڅونې کنفرانس راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## رسنیو کې «د اوبو او انرژۍ په سکتور کې د پانګونې د جلب او هڅونې کنفرانس» په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

### ۱- په دولتي رسنیو کې د نظرونو ارزونه:

**تلویزیونونه**




**ویاندویان**



## دولتي رسنيو کې د نظرونو عمومي ارزونه




## ۲- خصوصي رسنيو کې د نظرونو ارزونه:

### تلويزيونونه




### راډيوګانې




### ورځپاڼې




### اژانسونه



## خصوصي رسنيو کې د نظرونو عمومي ارزونه




## دولتي او خصوصي رسنيو کې د نظرونو ټولګه




## «د اوبو او انرژۍ په سکتور کې د پانګونې د جلب او هڅونې کنفرانس» په اړه په ټولنيزو رسنيو کې د خلکو نظرونو تحليل او تجزيه

### د خلکو نظرونو د تحليل او تجزيې موخه:

په ټولنيزو شبکو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو تحليل او تجزيه د خلکو د نظرونو د روښانتيا او هغوی ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسئلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت ورکوي، چې د حکومت د اقتصادي تصميمونو، فعاليتونو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نيوکې او وړانديزونه شريک کړي. له دې امله مسوولين له دغو نظرونو څخه په ګټې اخيستنې سره په راتلونکي کې د خلکو له غوښتنو او وړانديزونو سره سم لازمې پرېکړې کولی شي.

### افغانستان کې له ټولنيزو شبکو څخه د ګټې اخيستنې واقعيت

که په ټولنيزو شبکو کې د خلکو حضور او فعاليت وڅېړو، په افغانستان کې اکثريت خلک په فيسبوک کې فعال دي. خو په ټويټر کې رسمي-حکومتي کسان او د سياسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ډېر حضور لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او غير رسمي کسان تر فيسبوک په ټويټر کې ډېر فعاليت لري. افغانستان کې په ټويټر کې د عامو خلکو حضور تر فيسبوک کم دی.

خـو د رسـنیو، دولتـي او نادولتـي بنسـټونو اړونـدې ټولنیـزې شـبکې او همدارنگـه د سـیاسي، اقتصـادي، ټولنیـز او فرهنگـي ډگـر فعـالان د عامـو خلکـو او همدارنگـه د رسمي اشـخاصو او بنسـټونو تـر پوښـښ لانـدې راوسـتو لـه املـه پـه فیسـبوک او ټویټـر دواړو کـې فعـال دي او هـره ورځ خبرونـه، شـخصي، رسـمي او غیـر رسـمي راپورونـه خپـروي.

## رسنیو کې د خلکو نظرونو د شمېرو تحلیل او تجزیه:

په رسنیو پورې اړوند ټولنیزې شبکې پر دوو برخو وېشلای شو: خصوصي رسنۍ او دولتي رسنۍ.

۱. «د اوبـو او انـرژۍ پـه سـکتور کـې د پانگونـې د جلـب او هڅونـې کنفرانـس» راپـور پـه اړه د خلکـو نظرونـو د شـمېرو تحلیـل او تجزیـه د خـبري آژانسـونو، تلویزیونونـو، راډیوگانـو، وېبپاڼـو او ورځپاڼـو پـه گـډون پـه خصـوصي رسـنیو کـې ده. پـه خصـوصي رسـنیو کـې د خلکـو د مثبـت، منفـي شـمېرو او وړاندیزونـو شـمېر داسـې دی، چـې مثبـت نظرونـه ۷۵٪، منفـي نظرونـه ۲۳٪ او سـالم وړاندیـز ۲٪ دي.

۲. همدارنگـه «د اوبـو او انـرژۍ پـه سـکتور کـې د پانگونـې د جلـب او هڅونـې کنفرانـس» د تلویزیونونـو او ویاندویانو پـه گـډون د دولتـي رسـنیو پـه ټولنیـزو شـبکو کـې دي، چـې مثبـت نظرونـه ۴۹٪، منفـي نظرونـه ۴۲٪ او سـالم وړاندیزونه ۹٪ دي.

کـه پـه خصـوصي او دولتـي رسـنیو کـې مثبـت او منفـي نظرونـه او سـالم وړاندیزونـه جمـع کـړو، پـه ټولـه کـې ٦۴٪ مثبـت نظرونـه، ۳۲٪منفـي نظرونـه او ۴٪ سـالم وړاندیزونـه دي. پـه دې ارزونـه کـې څـه چـې د غـور وړ دي، دا دي چـې پـه خصـوصي رسـنیو کـې تـر دولتـي هغـو د خلکـو مثبـت نظرونـه زیـات دي. پـه خصـوصي رسـنیو کـې د خلکـو د مثبتـو نظرونـو شـمېر ۷۵٪ او پـه دولتـي هغـو کـې د خلکـو مثبـت نظرونـه ۴۹٪ دي.

کـه پـه خصـوصي او دولتـي رسـنیو کـې مثبـت او منفـي نظرونـه او سـالم وړاندیزونـه جمـع کـړو، پـه ټولـه کـې ٦۴٪ مثبـت نظرونـه، ۳۲٪منفـي نظرونـه او ۴٪ سـالم وړاندیزونـه دي. تـر دولتـي رسـنیو د خصـوصي رسـنیو پـه ټولنیـزو شـبکو کـې د خلکـو د مثبتـو نظرونـو زیاتـوالي د بحـث وړ دی. لامـل یـې څـه دی؟

پـه خصـوصي رسـنیو کـې د خلکـو د مثبتـو نظرونـو د زیاتـوالي لامـل دا دی چـې دا موضـوع خصـوصي رسـنیو ډېـره خپـره کـړې. دا چـاره د دې لامـل شـوې ده چـې د دې مهمـې موضـوع پـه اړه، چـې پـر کارموندنـه مستقیم اغېـز لـري، د خلکـو نظرونـه ډېـر شي.

دا چـې د مـلي او نړیوالـو پانگونـو جلبـول خلکـو تـه د کاري چاپېریـال د چمتـو کېـدو لپـاره هیلـه کېـدای شي، لـه همـدې املـه د انـرژۍ او اوبـو پـه سـکتور کـې د پانگونـې د جلبولـو او هڅونـې د راپـور د خپرولـو پـه اړه د خلکـو نظرونـه زیـات دي، ځکـه دا یـوه بنسـټیزه او مهمـه پـروژه ده چـې حکومـت ډېـر تمرکـز وربانـدې لـري.

## ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول بیانولی شو:

- سوداګر باید هېواد ته راشي او دلته پانګونه وکړي؛
- که ټاکل شوې وي چې عادل دولت رامنځته شي، نو غوره ده چې د حکومتي چارواکو او مسوولینو ټولې پانګې ثبت شي؛
- تر څو چې د رسمیت پېژندو مسئله حل نه‌شي، د سوداګرو د پانګونې ستونزه به په اسانۍ حل نشي؛
- د پانګونې لپاره یوه مهمه مسئله په صنعتي پارکونو کې د برېښنا ستونزې حل دی، هیله ده چې حکومت په دې برخه کې جدي اقدام وکړي.
- یو مهمه برخه چې باید پانګونه پکې وشي د اوبو او انرژۍ سکتور دی، د افغانستان اوبه بهر ته ځي، باید مدیریت او کنټرول شي؛
- د پانګونې یوه زمینه هم د راکړې ورکړې ازاد پرېښودل دي، یعنې له داخله بهر ته د پیسو لېږد او برعکس، نو اسلامي امارت باید هڅه وکړي، چې د پانګونې پر وړاندې دغه خنډ لرې کړي.

## ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په مطالعې سره په عمومي توګه څو مهمې مسئلې د پام وړ دي:

- **لومړی**، د انرژۍ او اوبو په برخه کې د پانګونې د جلب او هڅونې د راپور په اړه په ټولنیزو شبکو کې د خلکو یو مهم نظر هېواد ته د سوداګرو د راستنېدو او په افغانستان کې د خپلو خلکو لپاره د پانګونې غوښتنه ده. په حقیقت کې دا د خلکو یوه مهمه غوښتنه ده چې په همدې موخه د ملي او نړیوالو پانګونو د جلب او هڅونې کنفرانس جوړ شو. له یوې خوا دغه تمایل ملي او نړیوال پانګوال هڅوي او له بلې خوا د پانګونې د ملاتړ لپاره د حکومت اراده څرګندوي.
- **دویم**، د نظام او دولت د عدالت په اړه د خلکو وړاندیزونه، په ځانګړې توګه د لوړپوړو چارواکو د سرمایې او شتمنیو د ثبت په برخه کې مهم او د پام وړ دي. د خلکو په باور دې موخې ته د رسېدو یوه لاره د ټولو دولتي چارواکو د شتمنیو ثبتول دي. که څه هم د کابل په تېره اداره کې هم کله کله دا ډول پروسه ترسره کېده، په حقیقت کې دا یو فریب و، او په حقیقت کې یې هېڅکله د دولتي چارواکو شتمني نه وه ثبت کړې. که داسې شوي وای، نو هېڅکله به د پخوانیو حکومتي چارواکو په بانکي حسابونو کې میلیونونه ډالر نه وو. که څه هم د خلکو نظرونو او غوښتنو ته په کتو دا یوه ښه طریقه ده، خو د دې لپاره چې حکومت او مسوولین یې عادل او صادق وي، باید عملاً د حکومت پرېکړې او پلانونه ولیدل شي، چې د اقتصادي ودې او خلکو ته د کاري زمینې رامنځته کولو او د دوی ستونزو د حلولو لپاره یې څه اقدامونه ترسره کړي یا یې په پلان کې لري.

**دریېیم**، یوه مهمه مسئله چې د ملي او نړیوالو سوداګرو د پانګونې په باب په نظرونو کې یې یادونه شوې ده، د رسمیت پېژندلو مسئله ده. د رسمیت پېژندلو مسئله د حکومت پر وړاندې یو لوی خنډ دی. د دې ترڅنګ د افغانستان د خلکو شاوخوا ۹ میلیارده ډالرو او مرستو بندېدل هم پر اقتصادي وضعیت مستقیم اغېز لري. له همدې امله حکومت هڅه کوي چې دغه ستونزه په اساسي ډول هواره کړي او تل یې ویلي چې له نړۍ سره د مثبتو خبرو او تعامل دروازه خلاصه ده.

**څلورم**، برېښنا د هر هېواد یوه اساسي اړتیا ده، په ځانګړې توګه د پانګونې او اقتصادي ودې لپاره ډېره مهمه ده. په دې اړه حکومت د تېرې ادارې پر خلاف سوداګرو ته په صنعتي پارکونو کې برېښنا زیاته کړې ده او په دې اړه جدي او قاطع دی. له داخلي سرچینو څخه د برېښنا د تولید په برخه کې د پانګونې او پاملرنې لپاره تر اوسه دوه ستر ګامونه پورته شوي دي؛ لومړی د کجکي برېښنا بند دویم فاز ګټې اخیستنې ته سپارل شوی، بل مهم ګام دا چې له کورنیو سرچینو په ځانګړې توګه له ډېرو سکرو د برېښنا تولید لپاره عملي اقدام شوی او پایلې به یې په نږدې راتلونکي کې جوتې شي.

## افغانستان کې د پانګونې د جلب لپاره مناسب شرایط

پخوا په افغانستان کې د پانګونې د نه راجلبولو یو مهم لامل د ټولیز امنیت نشتوالی و. خو د افغانستان اسلامي امارت تر بریا وروسته دا ستونزه هواره شوه. د همدې لپاره اسلامي امارت په لنډه موده کې په افغانستان کې د کورنیو او بهرنیو پانګو د جلبولو لپاره ډېرې اسانتیاوې رامنځته کړې دي.

د پانګونې په قوانینو او پالیسیو کې له اسانتیاوو څخه نیولې د ویزو تر اجرا پورې، د کورنیو او بهرنیو پانګونو لپاره د فرصتونو او لاربښوونو برابرول، د ځمکې د وېش خدمتونه او د صنعتي پارکونو او صنعتکارانو لپاره د برېښنا د لازیاتو خدمتونو وړاندې کول هغه څه دي چې د اسلامي امارت په راتګ سره د پانګونې د راجلبولو په موخه ترسره شوي دي.

په دغو ټولو کې خورا مهمه مسله د سرتاسري امنیت ټینګښت دی چې په تېرو شلو کلونو کې دا زمینه نه وه برابره شوې. دغه راز فساد او موازي اداري هغه ستونزې وې چې په تېرو شلو کلونو کې یې پر پانګونې منفي اغېز کړی و، چې د اسلامي امارت تر راتګ وروسته دا ستونزې حل شوې دي. اوسمهال ځینې ستونزې شته لکه د ځینو قوانینو نوي کول، چې موثر نه وو؛ خو د دغو مسایلو د اساسي حل لپاره هڅې روانې دي.

د افغانستان اسلامي امارت د پانګونې راجلبولو ته په لومړیتوب ورکولو سره په ځانګړي ډول په سترو زیربنایي پروژو کې د لویو پانګونو لپاره زمینه مساعده کړې ده. د بېلګې په توګه: د قوش‌تېپې د اوبو کانال د پروژې پیل چې د افغانستان په شمال کې له امو سیند څخه په یوه ثانیه کې ٦٥٠ متر مکعبه اوبه د بلخ، جوزجان او فاریاب ولایتونو پراخو دښتو ته انتقالوي. همدارنګه په هېواد کې د برېښنا د ستر بند په توګه د کجکي د برېښنا

بند د دویم فاز پرانېستل، د افغان انوېسټ شرکت پرانیستل، په پیروزي ښارګوټي کې د صنعتي پارک پرانیستل او د قشقري د تېلو بلاک څخه ګټه اخیستنه هغه پروژې دي چې د اسلامي امارت تر بریا وروسته پیل شوې او عملاً کار وربانـدې روان دی.

## پایله

په ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو ته په کتو څه چې د خلکو په نظرونو کې یې زیات انعکاس موندلی، هغه اقتصادي بنسټ ته پاملرنه او تمرکز دی، چې پانګونه په ځانګړې توګه افغانستان ته د داخلي او بهرنیو پانګوالو راجلبول دي. دا مسله به له یوې خوا د هېواد اقتصادي څرخ پر خوځښت راولي او له بلې خوا به د بېکارۍ د کمولو لپاره مناسب چاپیریال رامنځته کړي.

باید یادونه وکړو چې د اسلامي امارت یو لومړیتوب د بهرني پانګونې راجلبول په ځانګړې توګه د کورنیو پانګوالو پر هڅولو تمرکز دی. له نېکه مرغه د ۱۴۰۱هـ.ش کال د جوزا په ۳۰ مه، ۱۳ مشهورو افغان پانګوالو افغان انویسټ محدودالمسوولیت شرکت تاسیس کړ او د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال پرانیست. په دغه شرکت کې به لومړی ځل ۲۵۰ میلیونه ډالره پانګونه وشي، چې د وخت په تېرېدو به دا پانګونه زیاته شي. د دغه شرکت اصلي موخه د اسلامي امارت په همکارۍ خلکو ته د کاري زمینې برابرول او د افغانستان په اقتصادي وضعیت کې مثبت بدلون راوستل دي.

د یادونې وړ ده چې دا شرکت په څلورو سکتورونو کې فعالیت کوي لکه کانونو، انرژۍ/برېښنا، ساختماني او کرنې. د کانونو په برخه کې هڅه کوي چې د هېواد کانونه په معیاري او پرمختللې ټکنالوژۍ استخراج کړي ترڅو د ضایعاتو مخه ونیول شي. د هېواد د اړتیا وړ برېښنا په هېواد کې د شته ډېرو سکرو څخه تولیدوي، ترڅو په هېواد کې د وارداتي برېښنا کچه کمه کړي او په کال کې هغه سلګونه میلیونه ډالر چې ګاونډیو هېوادونو ته د برېښنا لپاره ورکول کیږي، د هېواد په اقتصادي وده او کاري فرصتونو رامنځته کولو کې ولګول شي. د دغه ډول پانګونو د رامنځته کولو لپاره د کورنیو پانګوالو هڅول له یوې خوا د اقتصادي ودې او هوساینې په برخه کې اغېزمن تمامېږي او له بلې خوا خلکو ته د کار زمینه هم برابروي.

# د هرات په ستره اقتصادي ناسته کې د ګډون په موخه
# د الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند سفر



**سریزه:**

له وروستیو سیاسي بدلونونو راپه دېخوا د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محور سیاست په غوره کولو سره هڅه کړې ده چې د پانګونې راجلبولو، اقتصادي ودې او پر ځان بسیاینې په برخه کې زیات کارونه پلان او یا یې هم ترسره کړي. د فساد له منځه تلو او د ګمرکي عوایدو په څو برابره کېدو سره، د لومړي ځل له پاره له اته سوه زره زیاتو دولتي کارکوونکو ته معاشونه او د پرمختیایي پروژو تمویل له کورنیو عوایدو څخه وشو او دا سترې لاسته راوړنې بلل کېدای شي.

په همدې موخه د ولایتي سفرونو په لړ کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د یو شمیر لوړپوړو حکومتي چارواکو په ملتیا په هغه ستره اقتصادي ناسته کې د ګډون په موخه چې د هرات ولایت د علماوو، قومي مخورو، سوداګرو او پانګوالو له لوري جوړه شوې وه، د ۱۴۴۴ هـ.ق صفر المظفر ۵نیټه چې د ۱۴۰۱ لمریز کال د وږي له ۱۱مې سره سمون لري، یاد ولایت ته سفر وکړ.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د هرات په ستره اقتصادي ناسته کې وویل، امنیت د یوه هېواد د اقتصادي ټیکاو او پراختیا مهم عنصر دی. الحمدلله له کلونو جګړو او بدبختیو وروسته اوسمهال په افغانستان کې بشپړ امنیت ټینګ شوی او موږ ته په کار دي چې د الله متعال ددې ستر نعمت شکر ادا کړو؛ ځکه د تیرې ادارې په واکمنۍ کې پانګوالو او سوداګرو ته بېلا بېل امنیتي ګواښونه متوجه و، خو د اسلامي امارت په واکمنۍ کې د ټولو خلکو په ځانګړې ډول سوداګرو، صنعت کارانو او صرافانو امنیت خوندي شوی دی. د تیرې ادارې فاسدو چارواکو نه یوازې دا چې د خلکو او سوداګرو امنیت یې نه و خوندي کړی، بلکې له بانکونو څخه یې د عامو وګړو او سوداګرو ۷۵۰میلیونه ډالر شخصي شتمني هم له ځان سره یوړه.

په دې ناسته کې دې خبرې ته هم اشاره وشوه چې له بريا وروسته، د افغانستان اسلامي امارت پر دې توانيدلی چې د بهرنيو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت وساتي. دا په داسې حال کې ده چې د سيمې باثباته هېوادونه هم پر دې نه دي توانيدلي چې د خپلو پيسو ثبات خوندي کړي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د خپلو خبرو په بله برخه کې ووېل، د يوه مسوول حکومت د استازي په توګه سوداګرو او پانګوالو ته ډاډ ورکوم چې د سوداګرو او پانګوالو اقتصادي پلان به له ارزونې وروسته د اجرااتو په سر کې ځای ولري او ژر تر ژره به پلې شي.

## د سفر موخه:

هرات ولايت ته د رياست الوزرا اقتصادي مرستيال سفر موخه چې يو شمير حکومتي لوړو پوړو چارواکو يې ملتيا کوله، په هغه ستره اقتصادي ناسته کې ګډون و چې د ياد ولايت علماوو، قومي مخورو، سوداګرو او پانګوالو له لوري رابلل شوې وه. سوداګرو، صنعت کارانو او صرافانو د امنيت په خوندي کېدو سره د پانګونې له پاره زمينه برابره شوې ده. له همدې امله د سترو اقتصادي ناستو جوړول يوه له هغو موخو ده چې د اسلامي امارت په کاري لومړيتوبونو کې ځای لري.

## هرا ت ولايت ته د الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند سفر په اړه رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه

### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنیو ارزونې ټولګه




**یادونـه:** پـه پورتنـي ګـراف کـې پـه دولتـي او خصوصـي رسـنیو کـې د خلکـو نظرونـو سـلنه چـې پـه انځوریـز، غږیـز او چاپـي بڼـه یـې هـرات ولایـت تـه د ریاسـت الـوزرا اقتصـادي مرسـتیال سـفر راپـور خپـور کـړی دی، پـه ګوتـه شـوې ده.

## دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې دخلکو نظرونو ارزونه:

**تلویزیونونه**




**ویاندویان**







دولتي رسنیو کې دخلکو نظرونو ارزونې ټولګه

## ۲- خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ورځپاڼې




### آژانسونه




### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




### دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



## د هرات په اقتصادي ناسته کې د الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د ګډون په اړه د خلکو نظرونو څېړنه

### د خلکو نظرونو څېړنې موخه

په ټولنیزو رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه د وضاحت او د خلکو نظرونو ته د پاملرنې په مانا ده. دا مسئله حکومت او له هغې مهمه دا چې خلکو ته مهم اقتصادي تصمیمونه چې د حکومت له لوري نیول کیږي، د همدې وګړو د نظرونو، غوښتنو، نیوکو او وړاندیزونو په رڼا کې وړاندې کوي.

### په افغانستان کې له ټولنیزو رسنیو د ګټې اخیستنې واقعیت

په افغانستان کې په ټولنیزو رسنیو کې د خلکو فعالیت او شتون داسې دی چې زیاتره خلک فیسبوک کاروي. خو په ټویټر کې بیا یوازې رسمي- حکومتي کسان، بنسټونه او د سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي برخو فعالان برخه لري.

خو د رسنیو، حکومتي او نا حکومتي بنسټونو اړوند ټولنیزې رسنۍ او د سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي برخو فعالان د عامو وګړو او دغه راز رسمي کسانو اوبنسټونو تر پوښښ لاندې راوستلو له امله په فیسبوک او ټویټر کې فعال حضور لري او هره ورځ شخصي، رسمي او نارسمي خبرونه او راپورونه خپروي.

### رسنیو کې د خلکو نظرونو شمیرو څېړنه

رسنیو اړوند ټولنیزې شبکې کولای شو په خصوصي او دولتي رسنیو وویشو:

۱. د تلویزیونونو، راډیو ګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون خصوصي رسنیو کې د هرات اقتصادي ناسته کې د الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند ګډون په اړه د خلکو نظرونو ارزونه ده. د خصوصي رسنیو اړوند ټولنیزوشبکو کې د خلکو مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه داسې دي چې ۵۳ سلنه مثبت، ۴۶سلنه منفي نظرونه او ۱سلنه سالم وړاندیزونه دي.

۲. د تلویزیونو او ویاندویانو په ګډون دولتي رسنیو کې د هرات په اقتصادي ناسته کې د الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د ګډون په اړه د خلکو نظرونو ارزونه ده. چې له دې جملې ۴۲سلنه مثبت او ۵۰سلنه منفي نظرونه او ۸سلنه سالم وړاندیزونه دي.

دغه راز په خصوصي رسنیو کې دخلکو مثبت نظرونو فیصدي، ۵۳سلنه او په دولتي رسنیو کې ۴۲سلنه ده. که چیرې په خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه ډلبندي کړو، په ټوله

کې ۵۲سلنه مثبت نظرونه، ۴۶ منفي نظرونه او ۲سلنه سالم وړاندیزونه دي.

په دې ارزونه کې په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبت نظرونه د دولتي رسنیو په پرتله زیات دي. دې ته په پاملرنې چې د دولتي رسنیو په پرتله په خصوصي رسنیو اړوندو ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو نظرونو زیاتوالي لامل څه دی؟

هغه څه چې دلته باید په ډاګه شي، هغه د دولتي رسنیو په پرتله خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو نظرونو سلنې لوړوالی دی. د دولتي رسنیو کې د خلکو مثبت نظرونو کچه ۴۶سلنه ده او په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو کچه بیا ۵۳سلنه ده.

دلته کیدای شي مخاطبینو ته دوې پوښتنې رامخته شي، لومړۍ دا چې ولې د دولتي رسنیو په پرتله په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبت نظرونه زیات دي؟ دویم داچې ولې د هرات په اقتصادي ناسته کې د الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د ګډون په اړه په خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو نظرونو مجموعي سلنه لوړه ده؟

په ځواب کې باید ووایو چې د دولتي رسنیو په پرتله په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو نظرونو زیاتوالی په اصل کې د خلکو نظرونو اصلي ماهیت په ډاګه کوي. خو دا چې د هرات په ستره اقتصادي ناسته کې د الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د ګډون په اړه د خلکو مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، باید ووایو چې په داسې سترو ناستو کې د پانګونې په ځانګړي ډول کورنۍ پانګونې او ملي سوداګرو بحث کیدای شي د خلکو له پاره په زړه پورې وي.

د پانګونې بحث په ځانګړي ډول په افغانستان کې د پانګونې له پاره د ملي سوداګرو جلب هغه مهم مسایل دي چې کولای شي د بنسټیزو زیربناوو او د هېواد په دننه کې د کاري زمینې برابرولو په برخه کې اغیزناک تمام شي.

په تیرو شلو کلونو کې یو بنسټیز خنډ کورنۍ پانګونې او دغه راز افغانستان کې زیربناوو ته نه پاملرنه وه. دا په اصل کې د حکومت او ملي سوداګرو د نوښت پایله ده چې له یوه لوري د پانګوالو په ګټه ده او له بل لوري خلکو ته د کاري زمینې برابرولو په موخه ده چې ګټه یې ټولنې ته رسېږي.

## ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو خلاصه کولای شو داسې وړاندې کړو:

- د خلکو د امید سترګې حکومت ته اوړي؛ په همدې خاطر حکومت باید له خلکو سره د مرستې او د هغوی لاسنیوي په برخه کې له هیڅ راز هلو ځلو ډډه ونه کړي؛
- که چیرې د افغانستان اسلامي امارت شریعت پلی کړي، له شک پرته چې په پیلتیا سره به یې د خلکو ستونزې تر ډیره بریده حل شي. ځکه د افغانستان خلکو لومړی د شوروي اتحاد او بیا د امریکا د شل کلن اشغال پر وړاندې په بشپړ ډول د اسلام د پلي کېدو په موخه مبارزه وکړه؛
- کله چې کار اهل کار ته وسپارل شي، نو هر څه به سم شي. اسلامي امارت دې دغه راز د هرات سړک د جوړېدو په برخه کې چې له غور، بامیانو تیریږي او کابل ته رارسیږي او د هرات- کندهار- کابل له لارې یې واټن کم دی، اقدام وکړي، څو د مساپرو د تګ راتګ لار را لنډه شي؛
- د افغانستان اسلامي امارت دې د نورو ولایتونو د پرمختګ ترڅنګ ختیځو ولایتونو ته هم پاملرنه وکړي. له هغې جملې د کونړ پر سیند د برېښنا بند، مساپرو ته د اسانتیا له پاره کابل – جلال اباد دویم سړک او ګمبیري هوایي ډګر جوړېدل دي.

## ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په مطالعې سره په عمومي ډول څو مسئلې د بحث وړ دي:

- **لومړی**: حکومت ته د خلکو د امید سترګې په اصل کې دا په ډاګه کوي چې حکومت د ستر سیاسي چتر په توګه باید د خلکو ورځنی چارې تنظیم او د هغوی ستونزو ته حل لارې پیدا کړي. دا چاره په اصل کې د خلکو اصلي غوښتنه او د حکومت مهمه موخه ګڼل کېږي. خو حکومت لکه څنګه چې په ځلونو دا خبره کړې ده چې د خلکو اقتصادي ستونزو ته پای ورکول یې په لومړیتوبونو کې دي.
- **دویم**: د شریعت پلي کېدو بحث د افغانستان د مجاهدو او مسلمانو خلکو هیله او موخه ده. ځکه د نیواکګرو قدرتونو په ماتې کې یو مهم لامل د افغانستان د مجاهد ولس عقیدوي مسله وه چې د خلکو پر بریا یې نیغ په نیغه اغیزه درلوده. له همدې امله د اسلامي امارت مشران د افغانستان خلکو همدې غوښتنو ته ژمن دي، د شرعي حکمونو عملي کېدل او د اسلامي نظام واکمنېدل یې موخه ده چې په اړه به یې اقدام وکړي.
- **درییم**: کار د هغه اهل ته سپارل د یوه نظام د پرمختګ له لاملونو څخه ګڼل کیږي. په دې برخه کې دوه شیان باید یو له بل څخه جلا شي؛ یو شمیر په دې باور دي چې تخصص کولای شي د حکومتولۍ په ځانګړي ډول د یوه دولت د سترو پروګرامونو او چارو پرمخ بیولو ستونزه حل کړي، په داسې حال کې چې په تیرو شلوکالو کې د حکومتولۍ اوخدمتونو وړاندې کولو ستره ستونزه فساد وه چې زیاتره هغه متخصصان پکې ښکیل و چې له بهر څخه راوستل شوي و. له همدې امله د تخصص ترڅنګ باید ژمنتیا او سپیڅلتیا

تـه هـم پـوره پاملرنـه وشي. هغـه کسـان چـې د اسـلام لـه نظـره د افغانسـتان خلکـو او ددې جغرافیـې ارزښـتونو تـه ژمـن نـه دي، لـه هغـو پـه سـم ډول د چـارو تـرسره کولـو هیلـه او طمـع نـه ده پـه کار. لـه شـک پرتـه چـې خلکـو تـه د خدمـت لـه پـاره د ژمنتیـا او وفـادارۍ ترڅنـګ تخصـص او مسـلک یـوه اړتیـا ده، خـو هغـه بایـد د فسـاد او یـوه حکومـت د ویجـاړۍ او نـه هـم د خلکـو پـه حـق لـه هغـې جملـې پـه بیـت المـال کـې د خیانـت پـه بیـه چـې پـه ټولوخلکـو پـورې تـړاو لـري، تمـام شي.

- **څلـورم**: لـه هـرات څخـه تـر کابـل پـورې د حلقـوي سـړک جوړېـدل چـې د غـور او بامیانـو ولایتونـو څخـه تیرېـږي، د کونـړ پـر سـیند د برېښـنا بنـد، د کابـل- جـلال ابـاد ترمنـځ د دویـم سـړک او پـه ختیځـو ولایتونـو کـې د ګمبیـري هوایـې ډګـر جوړولـو پـه برخـه کـې د خلکـو غوښـتنې هغـه مسـایل دي چـې حکومـت د دې خـاورې پـه ګـوټ ګـوټ کـې هڅـه کـوي، پـه اوږدمهـال کـې دا ډول چـارې تـرسره کـړي.

د خلکـو سـتونزو هـوارول پـه هغـو نظامونـو کـې نـه کیـږي چـې یـوازې شـعار ورکـوي او پـه عمـل کـې د خلکـو د هوسـاینې لـه پـاره هېـڅ کار نـه تـرسره کـوي. پـه همـدې موخـه اسـلامي امـارت د خلکـو غوښـتنو تـه د رسـیدګۍ او د هېـواد د پرمختـګ لـه پـاره هلـې ځلـې کـوي چـې لـه شـعار ورکولـو پرتـه بنسـټیز کارونـه تـرسره او سـترې اقتصـادي پـروژې عمـلي کـړي. لکـه څنګـه چـې د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال پـه یـوه مهمـه اقتصـادي ناسـته کـې ویـلي دي: د اقتصـادي حالـت د ښـه کېـدو او مـلي عوایـدو کچـې د لوړېـدو پـه موخـه پـه لنـډ مهـال کـې د خلکـو هوسـاینه او اقتصـادي ټیـکاو د اسـلامي امـارت لـه لومړیتوبونـو څخـه دي.

## پایله

د اقتصـاد محـور سیاسـت غـوره کـول پـه اصـل کـې د پانګونـې د جلـب او هڅونـې او دغـه راز د خلکـو هوسـاینې تـه د پاملرنـې لـه پـاره هڅـه ده. دې مسـئلې تـه د پاملرنـې یـوه نښـه پـه ځانګـړې ډول د اسـلامي امـارت تـر بریـا وروسـته د بشـپړ امنیـت ټینګښـت دی چـې د پانګونـې لـه پـاره یـې شرایـط برابـر کـړي دي. پـر دې سربېـره د فسـاد لـه منځـه وړل یـوه بلـه مهمـه مسـله ده چـې پـه تیـرو شـلو کالـو کـې پخوانـۍ اداره د هغـه پـه لـه منځـه وړلـو بریالـۍ نـه شـوه. د امنیـت ټینګښـت او د فسـاد لـه منځـه وړل پـه اصـل کـې اقتصـادي ودې، ځـان بسـاینې او دغـه راز د خلکـو لـه پـاره د کار روزګار موندلـو تـه پاملرنـه د حکومـت لـه بنسـټیزو فعالیتونـو څخـه ګڼـل کېـږي او د اسـلامي امـارت پـه کاري لومړیتوبونـو کـې ځـای لـري.

د ریاسـت الـوزرا اقتصـادي مرسـتیال ولایتـي سـفرونو لـه جملـې څخـه پـه سـتره اقتصـادي ناسـته کـې د ګـډون پـه موخـه چـې د هـرات علـماوو، قومـي مخـورو، سـوداګرو او پانګوالـو لـه لـوري رابلـل شـوې وه، هـرات ولایـت تـه سفر چـې یـو شـمیر لـوړو پـوړو حکومتـي چارواکـو یـې ملتیـا کولـه، هغـه سفر دی چـې د پانګونـې د جلـب او د کورنیـو پانګوالـو د هڅونـې پـه موخـه تـرسره شـوی دی. پـر پلازمېنـه سربېـره ولایتونـو تـه پاملرنـه او د هېـواد پـه ګـوټ ګـوټ کـې د پانګونـې هڅونـه پـه اصـل کـې د پانګونـې او د خلکـو لـه پـاره د کاري فرصتونـو رامنځتـه کولـو پـه موخـه د هغـو منظـم کېـدل بلـل کېـږي.

# د افغان انویسټ محدودالمسئولیت شرکت پرانسته




## سریزه

پر کورنۍ پانګونې تمرکز، د هغې پیاوړتیا او ملاتړ د اقتصادي ثبات لپاره یو مهم ګام دی. د دې مسلې اهمیت هغه وخت احساسېدای شي چې کله تېرې دوې لسیزې د بهرنیو مرستو پر بنسټ د پانګونې اتکا ته وګورو. په دغه وخت کې د میلیاردونو ډالرو پر راتګ سربېره، افغانستان لا هم د اقتصادي زیربناوو او خلکو ته د کارموندنې د سرچینو له نشتوالي سره مخ دی.

په همدې برخه کې ۱۳ مشهورو افغان پانګوالو په روان کال کې د اسلامي امارت په نوښت افغان انویسټ محدودالمسوولیت شرکت تاسیس کړ او د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال پرانیست. په دغه شرکت کې لومړی ځل ۲۵۰ میلیونه ډالره پانګونه کېږي، چې د وخت په تېرېدو یې دا پانګونه زیاته شي.

افغان انویسټ شرکت په کانونو، انرژۍ/برېښنا، ساختماني او کرنې سکتورونو کې د معیاري او باکیفیته تجهیزاتو په کارولو سره فعالیت کوي. دغه لویه پانګونه په سیمه‌ییزو او نړیوالو معیارونو د کورنیو او بهرنیو پانګونو لپاره د باوري او معیاري مرکز د ایجاد په موخه وشوه. د کانونو په برخه کې هڅه کوي چې د هېواد کانونه په معیاري او پرمختللې ټکنالوژۍ استخراج کړي ترڅو د ضایعاتو مخه ونیول شي. د هېواد د اړتیا وړ برېښنا د ډېرو سکرو له کورنیو سرچینو څخه تولیدوي، ترڅو په هېواد کې د وارداتي برېښنا کچه کمه کړي او په کال کې هغه سلګونه

میلیونه ډالر چې ګاونډیو هېوادونو ته د برېښنا لپاره ورکول کیږي، د هېواد په اقتصادي وده او کاري فرصتونو رامنځته کولو کې ولګول شي.

دا شرکت د کرنې سکتور کې د خلکو لپاره د کاري زمینې د برابرولو په برخه کې د پانګونې پلان هم لري. همدارنګه په ساختماني برخه کې پلان لري چې د بندونو، پلونو، پلچکونو او... په جوړولو کې پانګونه وکړي. په حقیقت کې، افغان انویسټ شرکت د داخلي ظرفیتونو په کارولو سره د افغانستان د اقتصاد او بنسټیزو زیربناوو د پیاوړتیا لپاره کار کوي. دغه شرکت په راتلونکي کې د کورنیو پانګوالو تر څنګ د بهرنیو پانګوالو د جلب او غړیتوب پلان هم لري.

## د شرکت موخه:

افغان انویسټ محدودالمسوولیت شرکت په کانونو، انرژۍ/برېښنا، ساختماني او کرنې سکتورونو کې د اسلامي امارت په نږدې همکارۍ خلکو ته د کاري فرصتونو چمتو کولو او د هېواد په اقتصادي وضعیت کې د مثبتو بدلونونو په راوستلو د معیاري او باکیفیته تجهیزاتو په کارولو سره جوړ شوی دی.

## په رسنیو کې «د افغان انویسټ شرکت د جوړېدو» په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

### الف: خصوصي رسنۍ:




### ب: دولتي رسنۍ:



## خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې د سلنې ټولګه




**یادونه:** په پورتني ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي، چې د افغان انویسټ شرکت د جوړېدو راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱. خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو ارزونه:

#### تلوېزیونونه




#### راډيو ګانې




#### ورځپاڼې




#### آژانسونه



خصوصي رسنیو کې د نظرونو عمومي ارزونه




## ۲. دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه:

### ویب پاڼې




### ویاندویان




### آژانسونه




### دولتي رسنیو کې د نظرونو عمومي ارزونه






د دولتي او خصوصي رسنیو
د نظرونو ټولګه

## د افغان انویسټ شرکت د جوړېدو په اړه په ټولنیزو رسنیو کې د خلکو نظرونو تحلیل او تجزیه

### د خلکو نظرونو د تحلیل او تجزیې موخه:

په ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو تحلیل او تجزیه د خلکو نظرونو د روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسئلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت ورکوي، چې د حکومت د اقتصادي تصمیمونو، فعالیتونو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندېزونه شریک کړي. له دې امله مسوولین له دغو نظرونو څخه په ګټې اخیستنې سره په راتلونکي کې د خلکو له غوښتنو او وړاندیزونو سره سم لازمې پرېکړې کولی شي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو څخه د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د خلکو حضور او فعالیت وڅېړو، په افغانستان کې اکثریت خلک په فیسبوک کې فعال دي. خو په ټویټر کې رسمي-حکومتي کسان او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ډېر حضور لري. له همدې امله د افغانستان د اسلامي امارت رسمي او غیر رسمي کسان تر فیسبوک په ټویټر کې ډېر فعالیت لري. په افغانستان کې په ټویټر کې د عامو خلکو حضور تر فیسبوک کم دی.

خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او همدارنګه د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو له امله په فیسبوک او ټویټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او غیر رسمي راپورونه خپروي.

## په رسنیو کې د خلکو نظرونو د شمېرو تحلیل او تجزیه:

په رسنیو پورې اړوند ټولنیزې شبکې پر دوو برخو وېشلای شو: خصوصي رسنۍ او دولتي رسنۍ.

۱.«د افغـان انویسـټ شرکـت د جوړېـدو» راپـور پـه اړه د خلکـو نظرونـو د شـمېرو تحلیـل او تجزیـه د خـبري آژانسـونو، تلویزیونونـو، راډیوګانـو او ورځپاڼـو پـه ګـډون پـه خصـوصي رسـنیو کـې ده. پـه خصـوصي رسـنیو کـې د خلکـو مثبـت او منفـي شـمېرو او وړاندیزونـو شـمېر داسـې دی، چـې مثبـت نظرونـه ۳۷٪، منفـي نظرونـه ۵۸٪ او سـالم وړاندیـز ۵٪ دي.

۲.همدارنګـه «د افغـان انویسـټ شرکـت د جوړېـدو» راپـور پـه اړه د خلکـو نظرونـه د ویاندویانـو، خـبري آژانسـونو، او وېبپاڼـو پـه ګـډون پـه دولتـي رسـنیو کـې دي، چـې مثبـت نظرونـه ۷۲٪، منفـي نظرونـه ۲۱٪ او سـالم وړاندیزونـه ۷٪ دي.

پـه دې ارزونـه کـې د پـام وړ ټکـی دا دی چـې پـه خصـوصي رسـنیو کـې تـر دولتـي هغـو د خلکـو مثبـت نظرونـه زیـات دي. پـه دولتـي رسـنیو کـې د خلکـو د مثبتـو نظرونـو کچـه ۷۲٪ او پـه خصـوصي هغـو کـې د خلکـو مثبـت نظرونـه ۵۸٪ دي.

کـه پـه خصـوصي او دولتـي رسـنیو کـې د مثبـت او منفـي نظرونـه او سـالم وړاندیزونـه جمـع کـړو، پـه ټولـه کـې ۳۷٪ مثبـت نظرونـو، ۵۸٪ منفـي نظرونـه او ۵٪ سـالم وړاندیزونـه دي. پـه دولتـي رسـنیو کـې د خلکـو د مثبتـو نظریاتـو زیاتوالـی تـر خصـوصي هغـو د بحـث وړ دی. یعنـې کـوم عوامـل اغېـز او رول لـري چې درلودلـی شي؟

لومـړی بایـد دا هـېره نـه کـړو چـې کـه د افغـان انویسـټ شرکـت د جوړېـدو د راپـور پـه اړه پـه رسـنیو کـې د دولتـي او خصـوصي رسـنیو پـه تـړاو د خلکـو د مثبتـو او منفـي نظرونـو مجموعـه پـه پـام کـې ونیسـو، د منفـي نظرونـو سـلنه تـر مثبتـو هغـو لـوړه ده. دا مسـئله د خلکـو ریښـتیني نظرونـه پـه ډاګـه کـوي چـې دلتـه د خلکـو د لیدلـوري واقعیـت څرګندولـو لپـاره یـو یـو پـه ګوتـه کیـږي.

خـو د هغـو دلایلـو پـه اړه چـې پـه کـې د خلکـو مثبـت نظرونـه تـر خصـوصي رسـنیو پـه دولتـي هغـو کـې زیـات دي، بایـد ووایـو لکـه څنګـه چـې د خلکـو پـه نظرونـو کـې لیـدل کېـږي، پـه مهمـو اقتصـادي مسـایلو کـې لویـې پانګونـې لکـه د افغـان انویسـټ شرکـت تاسـیس پـه برخـه کـې د حکومـت پاملرنـې تـه د خلکـو هیله‌منـدي زیاتـه ده. کـه څـه هـم پـه ټولنـه کـې جمعـي روان داسـې دی چـې تـر دولتـي رسـنیو خصوصـي هغـه د بـې پـرې رسـنیو پـه توګـه زیاتـې تعقیبېـږي، خـو ډېـری داسـې خصوصـي رسـنۍ هـم شـته چـې د واقعیتونـو د بیانولـو پـر ځـای داسـې مسـایل مطـرح کـوي چـې د خلکـو او هېـواد د ګټـو د تامیـن پـر ځـای د پردیـو پـه ګټـه تمامېـږي.

د افغـان انویسـټ شرکـت د داخلـي سـوداګرو او پانګوالـو یـوه مهمـه پانګونـه ده چـې د داخلـي سرچینـو پـه برخـه کـې لکـه د برېښـنا د تولیـد پـه موخـه د طبیعـي سرچینـو د استخراج، د کرنـې سـکتور ودې او اسـاسي زیربنـاوو تـه پاملرنـه کـوي. دا یـوه اسـاسي اړتیـا ده چـې حکومـت د خصـوصي سـکټور پـه همـکارۍ د یـوه مهـم نوښـت پـه توګـه پـرې تمرکـز کـوي.

## ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول بیانولی شو:

- د دغه شرکت په پرانیستلو سره زموږ هېواد د پرمختګ په لاره کې یو بل ګام پورته کړ. دا اقدام به د بیکارۍ کچه راټیټه کړي. د دې ډول شرکتونو په جوړولو سره باید په هېواد کې د ټولو پروژو دقیقه ارزونه وشي. که دومره لویه پانګه د افغانانو د یووالي لامل شي، دا یو مثبت ګام دی. د یو سوله‌ییز، هوسا او پر ځان بسیا افغانستان په هیله.

- دا شرکت باید پراخ شي چې ټولو سوداګرو ته اجازه ورکړي چې پانګونه پکې وکړي، ترڅو افغانستان ته د ټولو سوداګرو د راستنیدو لپاره اسانتیاوې برابرې شي.

- تر پخوا د پانګونې شرایطو په ښه کېدو سره ځو بنسټیز کارونه پیل شوي او خلک ورته هیله من دي. په ۲۰ کلونو کې حتی یو تولیدي شرکت جوړ نه شو، بلکې ټول شرکتونه د خلکو د شخصي پانګې د زیاتېدو لپاره جوړ شوي دي. نو د اقتصادي ودې په برخه کې باید ډېر کار وشي، ځکه زموږ اقتصاد ډېر کمزوری دی.

- د تېر نظام په له منځه تللو سره خلک له ستونزو سره مخ دي. پانګوال بهر ته تښتي، نو څنګه یو سوداګر په افغانستان کې پانګونې ته حاضر شي؟ پر دې سربېره پر خلکو مالیات ډېر لوړ دي، باید کم شي.

- له اسلامي امارت څخه مو غوښتنه دا ده چې په دغه شرکت (افغان انویسټ) کې د پانګونې موضوع روښانه کړي، ترڅو خلک پوه شي چې څنګه، کوم ډول کسان او په کومو شرایطو په دغه شرکت کې پانګونه کولای شي.

- د انرژۍ/بریښنا د تولید په برخه کې باید له اوبو، د ډبرو سکرو، تیلو او نورو امکاناتو څخه په پراخه توګه ګټه واخیستل شي؛ ځکه بریښنا د ټولو صنعتي کارونو اصلي سرچینه ګڼل کیږي.

## په ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په مطالعې سره په عمومي ډول څو مهمې مسئلې د پام وړ دي:

- **لومړی**، یوه مهمه مسئله چې د «افغان انویسټ شرکت د جوړېدو» راپور په اړه د خلکو په نظرونو کې ډېره منعکسه شوې، د جګړې پای ته رسېدل او د پانګونې زمینه برابرېدل دي. د افغانانو په پانګونې سره د یوه لوی شرکت جوړېدل د بېکارۍ د کچې د راټیټولو او لویو پروژو ته د زیاتې پاملرنې هیله زیاته کړې ده. پر دې سربېره د دغه ډول شرکتونو پراختیا او د زیاتو داخلي سوداګرو ونډه اخیستل پکې د خلکو نظریات او غوښتنې دي. دا مسله له یوې خوا خلکو ته د کار زمینه برابروي او له بلې خوا له بهرنیو هېوادونو څخه د داخلي سوداګرو د راجلبولو لامل ګرځي.

**دویم**، کـه څـه هـم سیاسي او اقتصـادي وضعیـت هغسـې نـه دی لکـه څنګـه چـې بایـد وي، ځکـه افغانسـتان لـه کلونـو جګـړو او اشـغال، وروسـتیو سـیاسي تحولاتـو، د امریـکا لـه لـوري د افغانسـتان د شـتمنیو او مرسـتو بندېـدو لـه املـه لـه ګڼـو سـتونزو سره لاس او ګرېـوان دی. پـه داسـې حالـت کـې پانګونـې تـه پاملرنـه او د اقتصـادي بنسـټ د پیاوړتیـا پـه موخـه د لویـو شرکتونـو جـوړول او لـه داخـلي سرچینـو څخـه ګټـه اخیسـتل پـه دې برخـه کـې د قـوي ارادې شـتون ښرګنـدوي. اوسـمهال تـر ېخـوا د پانګونـې لپـاره د مناسـبو شرایطـو پـه اړه د خلکـو پـه نظرونـو کـې ویـل شـوي چـې د داخـلي ظرفیـت پـه پـام کـې نیولـو سره بنسـټیز کارونـه پیـل شـوي دي. پـه داسـې حـال کـې چـې پـه تېـرو ۲۰ کلونـو کـې د تولیـدي شرکـت د جوړولـو لپـاره دومـره پانګونـه نـه ده شـوې، بلکـې ټـول شرکتونـه د خلکـو د شخصـي پانګـې د زیاتـوالي پـه هـدف جـوړ شـوي دي.

**درېیم**،دلتـه بایـد د خلکـو نظرونـه او لیدلـوري سره لـه دې چـې منفـي او د حکومـت خـلاف دي، لـه پامـه ونـه غورځـول شي. د یـو شـمیر خلکـو پـه نظرونـو کـې ویـل شـوي چـې د پخـواني نظـام پـه لـه منځـه تلـو، خلـک لـه سـتونزو سره مـخ شـوي دي. دا یـو واقعیـت دی؛ کلـه چـې لـه کـوم ښـکاره دلیـل پرتـه د خلکـو ۹ میلیـارده پانګـه کنـګل، یـو ځـلي مرسـتې بنـدې او اقتصـادي بندیزونـه څـو برابـره شي، دا ټـول بـې اغیـزې نـه دي. خـو لـه دې سـتونزو او خنډونـو سره سره حکومـت پـه خپلـې یـوې کلنـې واکمنـۍ کـې پـر دې توانیدلـی چـې لـه ۸ سـوه زره زیاتـو دولتـي کارکوونکـو تـه معاشـونه لـه کورنیـو سرچینـو برابـر کـړي.

د هېـواد پـه شـمال کـې د اوبـو د سـترې پـروژې پـه توګـه د قـوش تېپـې کانـال د چـارو پـر پیـل سربېـره ، پیـروزي ښـارګوټي، د ۱۵۰میګاواټـه برېښـنا پـه تولیـد سره د کجکـي برېښـنا بنـد د دویـم فـاز سـترو پـروژو پرانسـته، د ۲۵۰ میلیونـو ډالـرو پـه پانګـې سره د افغـان انویسـټ شرکـت رامنځتـه کېـدل او دې تـه ورتـه نـورو لسـګونو پـروژو د چـارو دوام، د حکومـت د تیـر یـوه کال لاسـته راوړنـې دي. لـه دې ټولـو سره سره خلـک لـه هېـواده د پانګوالـو د وتلـو او لـوړو مالیـو څخـه سرټکـوي چـې حکومـت ددې سـتونزو هـواري لـه پـاره هلـې ځلـې کـوي.

**څلـورم**، پـه دې برخـه کـې هغـه څـه تـه چـې د خلکـو پـه نظرونـو کـې اشـاره شـوې، د برېښـنا تولیـد او لـه اوبـو، ډبـرو سـکرو، تیلـو او... سرچینـو څخـه د اسـتفادې پـه برخـه کـې د پانګونـې بحـث دی. پـه همـدې موخـه افغـان انویسـت شرکـت د حکومـت او خصوصـي سـکتور پـه نوښـت رامنځتـه شـو چـې د کانونـو، انـرژۍ/ برېښـنا، ودانیـزو چـارو او کرنـې پـه برخـه کـې فعالیـت کـوي.

کـه چیـرې هغـه څـه تـه چـې اوسـمهال یـې حکومـت پـه لاس کـې لـري او دغـه راز هغـو بندیزونـو اوسـتونزو تـه چـې حکومـت او خلـک ورسره لاس او ګریـوان دي، وکتـل شي، لـه شـک پرتـه د زیربنایـي پـروژو پیـل د مسـئولینو نیـک نیـت او پیـاوړې اراده پـه ډاګـه کـوي چـې د هېـواد اقتصـادي حالـت او د خلکـو ژونـد ښـه کېـدو پـه موخـه یـې لـري. د افغـان انویسـت شرکـت کـې د ۲۵۰میلیونـو ډالـرو پانګونـې یـوه موخـه همـدا مسـئله ده.

افغـان انویسـت شرکـت د کانونـو پـه سـکتور کـې چـې ارزښـت یـې میلیاردونـو ډالـرو تـه رسـیږي، هڅـه کـوي چـې د

هېواد کانونه د معیاري او پرمختللي ټکنالوژۍ په مټ راوباسي او په غیرفني ډول د استخراج او ضایعاتو مخه ونیسي. دغه راز د هېواد اړتیا وړ برېښنا له کورنیو سرچینو له هغې جملې ډبرو سکرو څخه تولیدوي، څو په دې ډول په هېوادکې د وارداتي برېښنا کچه راکمه او په میلیونونو ډالر چې هر کال د برېښنا په خاطر نورو هېوادونو ته ورکول کیږي، وسپموي او هغه بیا په نورو مهمو اقتصادي چارو کې ولګوي. پر دې سربېره کرنیز سکتور په اړه هڅه کیږي چې دا سکتور د کرنیزو تولیداتو په برخه کې پر ځان بسیا کړي. د ودانیزو چارو په برخه کې هڅه کوي چې په ټول افغانستان کې د بندونو، پلونو، پلګوټو په جوړولو سره لرې پرتې سیمې له ښارونو سره ونښلوي او په دې برخه کې سترې پروژې پلې کړي.

په اصل کې د افغان انویست شرکت رامنځته کېدو موخه چې د وخت په تیرېدو سره به یې پانګه زیاته شي، د اقتصادي ملاتړ او ټیکاو پیاوړتیا او دغه راز د افغانستان له ځمکنیو زېرمو څخه ګټه اخیستل دي چې ددې زیرمو ارزښت میلیاردونو ډالرو ته رسېږي. هغه زیرمې چې په تیرو کلونو کې د جګړو او ناامنیو له امله ترې ګټه نه ده پورته شوې او اوسمهال د بشپړ امنیت په ټینګښت سره په دې برخه کې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې له پاره زمینه برابره شوې، دې موخې ته د رسېدو په صورت کې به په نږدې راتلونکي کې یو ستر اقتصادي بدلون رامنځته شي.

## پایله

په وروستي یوه کال کې د اقتصادي زیربناوو د ملاتړ او پیاوړتیا په موخه د افغانستان طبیعي زیرمو څخه د ګټې اخیستنې په برخه کې پانګونې د بنسټیزو زیربناوو جوړولو او کارموندنې له پاره هیلې زیاتې کړې دي. د افغانستان د طبیعي زیرمو په استخراج کې پانګونه چې ارزښت یې میلیاردونو ډالرو ته رسېږي او دغه راز له دې سرچینو د برېښنا تولید او د کرنې سکتور پر ودې تمرکز سره د راتلونکې په اړه هیلې مخ په زیاتېدو دي.

په ځانګړي ډول وروستیو دوو لسیزو ته په کتو چې میلیاردونه ډالر مرستې وشوې، بنسټیزو زیربناوو ته هیڅ راز پاملرنه نه ده شوې. خو په تیر یوه کال کې د اسلامي امارت په راتګ سره له ګڼو اقتصادي ستونزو باوجود، د بنسټیزو زیربناوو دملاتړ او پیاوړتیا په برخه کې پانګونه او اغیزناک عملي ګامونه پورته شوي دي چې له یو شمیر څخه د ګټې اخیستنې په صورت کې همدا اوس کولای شو دا زیری ورکړو چې په نږدې راتلونکي کې به د یو ستر اقتصادي بدلون شاهدان واوسو. هغه څه چې د افغانستان ځوریدلي خلک ورته سترګې په لار دي.













د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو او تشريفاتو رياست
د مطبوعاتو امريت



@FDPM_AFG www.dpmea.gov.af @FDPM_AFG

تله- ١٤٠١